کابل

ادبي، تاريخي او اجتماعي

oct. nov. 61

2 - JUN 22
Copy 1962

د پښتو ټولنې

میاشتنۍ خپرونه

۸

پرله پسې ګڼه: ۵۰۵

لړم (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ق) کال د ۱۹٦۱ کال اکتوبر او نومبر

امتیاز : دپښتو ټولنې

دپښتو ټولنې مشر : گل پاچا الفت

مسؤل مدیر : محمد صدیق روهی

مهتمم محمد مومن پټوال

په دې گڼه کښې

لیک	لیکوال	مخ
ویه	دع .ر ترجمه	۱
پښتو تصفیه غواړی ـ	ق «خادم»	۱۹
نوی ملی ادب... ـ	ولس یار	۲٤
ملاخیرالدین هوتك ـ	عبدالشکور رشاد	۲۹
اشعار ـ	دځینی شعرا ؤ	۳٤
دغاړه نه ایښودلو... ـ	قدرت الله حداد	٤۰
ښایست یعنی څه؟ ـ	دظاهر افق ترجمه	٤٤
دزړه لوگی ـ	واسعی	٥۰
نوې ژبپوهنه . . .	تزی	٥٤
دافغانستان او ...	دوریانکوف	٥۹

لیکونکی:ه ،ا، گلیسن

مترجم: ع،ر،پالوال

له An Intrnduction to dascriPtion Linglistics څخه

ویه TEE MORPHEME

په انگلیسی ژبه کښې شپږ څلویښت(٤٦) (فونیمونه PHONEMES) یاصوتی واحدونه سته چه که دغه ټول مفصلا شرح کړی سی اودهر یوه څرنگوالی بیان کړه سی نو هغه وخت به دانگلیسی ژبې په باره کښې ډېره څه ویل شوی وی دهغه فونیمو (ژوغو) په څښتو لوسره چه په دغه ٤٦ کښې راځی ، هره انگلیسی وینا یوازې له هغه لیکلی څښته څخه کټ مټ هغسې پوره تکراریدلای شی .

دغه ژوغونه دیوې ژبې د مفصلې شرحې اصلی برخه او قیمتی نتایج دی، مگر دوی له بشپړې تجزیې څخه لیری پاته کیږی دغه هیڅ پروانه لری تر هر څومره لېری ځایه پورې چه دغه تحقیق تعقیب کړه شویدی عخود ژبې دوینا وو دمعناپه باره کښې هیڅ کوم شی پټ نه دی ، پا ته شوی سره له دې هم دهرې ژبې اجتماعی وظیفه داده چه له ویونکی څخه واوریدونکی ته معلومات یوسی ، چه بېله دغه څخه به نو ژبه اجتماعاً بې ګټې اوښایی موجوده به نه وای دیوې ژبې دژغپوهنې PHONOLOGY مطالعه (هر څومره چه مشرحه وی باك نه کوی) وموږ ته دمعناپه باره کښې هیڅ نه شی ویلای ځکه چه ژوغونه (فونیمونه) له مضمونه CONTENT سره هیڅ کومه مستقیمه اړه اورابطه نه لری، اودوی تش هغه واحدونه دی په کوموسره چه ویونکی او اوریدونکی یوله بله دویو (مورفیمو) عینیت او تشابه سره راولی. دژبې دنوری مطالعې له پاره باید (ویې) اود (ویو) ترکیبونه وازمویل سی کله چه دغه کاروپای ته ورسیږی نو دژبې ساختمانی تجزیه پر یوه بل اساسی اړخ باندې راوړاندې کیږی.

٢-ویې (مورفیمونه) عموماً دژوغو (فونیمو) لنډې سلسلې دي. دغه ژوغی سلسلې تکراری RECURRENT دی مگر ټولې تکراري سلسلې ویې (مورفیمونه) نه دی مثلا په دمخنی پیره گراف کښې د«د» de ژوغی سلسله څوارلس (١٤) پلا، اود«لی» Li ژوغی (فونیمی) سلسله (٥) واره واقع شویده د«د» او «لی» غوندې، دغسې سلسلې دپښتو ژغپوهنې دحادثو په توگه گټورې مطالعه کیدلای شی، اوددغو اومشابهو سلسلو په باره کښې

ئې ځینې مهم عمومیات جوړېدلای شی د «لی» په باره کښې یوه دغسی مطالعه، هرهغه څه چه په جدی توجه سره د دغی سلسلې رعایت کوی، خوشی اوایسته کوی، مګر د «د» په برخه کښې دغسی نه دی، ځکه سر بېره پر دې چه «د» da دزوغو (فونیمو) یوه سلسله ده، دغه رنګه په دغو هرو څوارلسو راتلنو یا واقع کیدنو کښې یوه ویه (مورفیم) هم ده، اودغه شانی نود تنظیم یا تشکیل په لوړه طبقه کښې برخه اخلی مګر «لی» په دغی خوا کښې مناسب نه دی ء داچه «لی» او «د» په و اقعیت کښې لږ اوډیر عمومیت لری، د دوی پر وضع باندی کومه اغیزه نه ښندی.

۳ـ د «لی» او «د» ترمنځ توپیر پر دغه واقعیت باندې تکیه کوی، چه «د» په هره یوه د خپلو څوارلسو را تلنو کښې یوه معنالری چه هغه د ساختمان له ځینو عناصرو سره د ژبې د مضمون له نقطهٔ نظره څه رابطه ده په داسې صورت کښې چه «لی» معنانه لری، پرته له دې چه دغه له ځینو نورو زوغی (فونیمی) سلسلو سره تا کلی توتې جوړوی لکه: اصلی، لیری، مفصلی ...

دغه رنګه «د» دیوه مورفیم غوندې په ژبه کښې له نورو مورفیمو سره اثباتېدونکې رابطه لری چه دغه نوروه ډوله ده: «د ژبې مطالعه» په فرېزیا عبارت کښې د «د» او دهغو ویو (مورفیم) ترمنځ چه ورپسې راځی، دوینا په دغې مخصوصې تو تې کښې، تا کلی مشخصه ارتباطو نه شته چه د پښتو نمونی کړه وړه ئی دغسې دی د غه ر نگه د «د» دمور فیم نوری تا کلی رابطې هم شته، چه هغه په دغسې ډول سره منحصری شوی نه دی، اود غه شانی د ژبې په سیستم کښې د قاعدې په تو گه یوه برخه تشکیلوی. دا هغه عمومیات دی چه «د ژبې مطالعه» مثال په مقایسې سره له ډیرو نورو دغسی مثالو سره راوارد شوی یا ومنځ ته راغلی دی د مثال په تو گه په «د» پسی نوم راتلای شی مګر نه په عام ډول سره یو فعل. په ځینو تر کیبو کښې «د» په «ز» سره هم الیشیدای شی، مثلا دلسو نوټ، په: لسیز نو ټ، سره له بله پلو ه «د» له «ز» او «س» سره هم اوښتنه لری لکه:

زماخولی، دما خو لی . دسړی خو لی

ستا خولی، دتاخولـی، دد ه خو لـی

دغه وسیع اوارت ارتباطو نه د ژبپو هنی پـه وېشنه کښې دهغی وېشنی د مطالعې موضوع ده چه د «گرامر» په تو گه پېژندل شویده.

٤ـ ویه (مورفیم) په ژبپوهنه کښې تر ږ و غ (فونیم) وروسته دوهم اساسی واحد پېژندل شویدی تر اوسه پوری خوئی هیڅ تعریف نه دی عدر کړه شوی اودغه بایدوویل شی چه یو دقیق تعریف ئې کیدونکی نه دی ء بنایی چه ښه ترین تعر یف

دی ئی داسی وکړه شی چه ویه (مورفیم) یو کوچینی ترین بامفهومه واحد دیء او دغه تعریف نود ګرامر له مخی څخه مناسب هم دیء مګر تر دې وروسته به دغه ضروری وی چه ګرامر دویو (مورفیم) او ددوی دتر کیبو د مطالعې غوندی تعریف کو چه دغه نوپه ښکاره سره یو دوران دی او کوم تعریف نه دیء خوسره له دې هم دغه داسی کار ورکوی چه وکوم بامعناشی ته دی اشاره وکړی.

دیوې اساسی مفکورې یا مننی غوندی مورفیم (ویه) په یوه دغسی دوری بیان پسی نه شی تعریفیدلای ځکه به نو موږ ضرورد تعریف په عوض کښی دمورفیمو ځینی تا کلی کړه وړه بیان کړو او ددوی د پېژندلو له پاره به ځینې عمومی قاعدې یا اصول وړاندې کو چه دغه کار به نوموږ دلته او په وروستو کښی وکو.

٥- دژبی په ساختمان کښی ځینی ویې (مورفیمونه) دکو چنیو بامعناوا حدو په توګه بیانیدلای شی په رشتیا هم یوډیر دقیق بیان به یې دعبارت او مضمون ترمینځ ارتباط کښی وې مګر ددغه لاس په لستونی مقصد له پاره یې یو لږ دقیق بیان هم مناسب دیء د «کوچینی ترین بامعناواحد» څخه زموږ مقصد هغه واحد دیء کوم چه تقسیمیدلای نه شی، او که تقسیم شی نو یا ورانیږی او یائې په معنا کښی موثر تغییر راځی؟ دمثال په توګه «سپارل» یو مورفیم (ویه) دیء چه په بشپړوالی کښی معنالری که چیری تقسیم کړه شی، نوداسې ټوټې ولاس ته ځنې راځی لکه: «سپا» او «رل» چه دواړه ئې معنانه لری. یا «سپاخه» او «سپانده» چه ځانته معناوی لری مګر دسپارل سره یې معنا کومه رابطه نه شته یعنی د «سپا رل» دویې (مورفیم) هرراز وپښنه ئی یا معناورانوی او یا پکښی موثر تغییر پیښوی. له دی پلوه نو «سپارل» زموږ تر بیان لاندی، دژبې په ساختمان کښی دیوه ډېروړ بامعناواحد غوندې تعریفیږی که څه هم «سپارښت» یو واحد مورفیم نه دی، خوسره له دې هم معنا لری دغه دسپارښت ویه، کیدلای شی چه پر «سپار» او «ښت» باندې تقسیم شی، چه هر ټوټه ئی ځانته معنالری، او تر کیبی معنائی داسې ده چه په دواړو ټوټو پورې مربوطه ده ځکه نو «سپارښت» له دوو ویو (مورفیم) څخه جوړشویدیء.

٦ - یوه ویه (مورفیم) داسې نه ده لکه یوه سپلابه خو پیښیږی چه ویې (مور فیمونه) دې یو سپلابه هم وی، مثلاً: سپور، لمراونورداسې مثالونه په پښتو کښی ډېردی. مګر - «مرغتانه» چه بیا یوه واحده ویه (مورفیم) ده خوشلور سپلابه لری. «ځ» او «ې» دواړه نخښې په «ځی»

کښی بیلی ویې (مورفیمونه) دی، خو په یو ځای والی کښی د و ا ړه وا حد ه سېلا به جو ړو ې ښایې چه ویه دې پر یوې یا څو بشپړو سېلابو ، او یا د سېلابو پر برخو، یا په واقعیت کښی د ږوغو (فونیمو) پر هر ترکیب باندې بېله دې چه د دوی ووضعې ته دې د سېلابو په توګه وکتل شې ، مشتمله وی .

۷ - ودې شی چه یوه ویه (مورفیم) دې د یوه واحد ږوغ (فونیم) لرونکې وی. چه دراوړه شوی مثال «ځی» وروستی ویه «ی» یو دغسې حالت لری .مګر دغه ویه او د «ی» «ږوغ» د هیڅ یوې لاری څخه هم سره یو شانی نه دی .

دغه ږوغ (فونیم) په ډیر و دا سی ځایو کښی واقع کیږی ،چیری چه له هغې ویې (مورفیمو) سره هیڅ سرو کار نه شی درلودلای لکه په دغو مثالونو کښی «زوی»، «لیرو» د وا ړه وایې (ا) (کلمې) د «ی» ږوغ لری مګر د «ځی» دویې «ی» سره هیڅ هم یوه مشترکه معنا نلری . د پښتو ډیر مورفیمونه د «ی» او «سپارل» دویو ترمنځ په اندازه کښی دی یعنی له دوو څخه نېولی بیا تر شپږو پورې ږوغونه (فونیمونه) لری. (۲)

۸- ډیر داسې پیښیږی چه دوه ویه ایز (مورفیمی) عناصر دی په عبارت کښی یو شانی وی مګر په مضمون کښی دې توپیر سره ولری. ودغسې یوې جوړې ته نو هم آوازه HOMCPHONOUS یا دلغت له مخې ورته «مشابه آوازه» ویل کیږی. مثلاً «ې» په «ځې» او «شځې» دواړو وایو (واژو) کښی ویه ده، خو بیا هم په دواړو کښی یوه یا عینی ویه (مورفیم) نه دی د «ځی» ویه «ې» معنا (دریم سړی «غایب»، مفرد، فاعل) مګر د «شځې» ویه «ې» معنا (ډیرې، جمع) چه دواړې هم آوازه ویې (مورفیمونه) دې (نور مثا لونه یې دادی : «۱» پیغلې! خبره و که . «۲» پیغلې خبره و کړه. «۳» پیغلې نجونې ټولې په باغو کښی دی. «٤» ځلمی و پیغلې ته خبره و کړه)

کیدلای شی چه دویو (مورفیمو) سلسلې دی هم دغه شانې هم آوازه وی، نو که چیری دغه له نورو ږوغی سلسلو سره وی او که دواحدو ویو په توګه. مثلاً د «دې» ویې (مورفیمونه) په دغو لاندې جملو کښی سره مقایسه کې:

«۱» ګوتمی دی واخله . «۲» دوی څوک دی . «۳» ځلمی دې غواړی .(چه په دروسرو جملو کښی د «دې» ویه ایزه سلسله هم آوازه مګر معنا وی یې مختلفې دی مثلاً لومړی «دې» اضافی معنالری دوهم د جمعی فعلی معنا او دریم ضمیری معنالری .)

(۱) وایه او ویه باید ځله غلطی نه شی ولی چه وایه (پروزم د کاسه، تایه) د Word ترجمه ده مګر ویه (پروزم د پله، چره) MORPHEME ترجمه ده چه خورا ډیر فرق سره لری

(۲) د مرغټانه ویه نه ږوغه لری او «ې» یو «پ»

۹ ـ که چیرې د ژبې په ساختمان کښې ویه (مورفیم) د یوې کوچینی با معنا واحد غوندې بیان کړه شی، نو باید هرومرو احتیاط وشی چه د با «معنا» او «معنی» وایې (کلمې) غلطې ـ تعبیر نه شی «معنا» داسې قصد کړه شویده څود هغې رابطې نمایندگی وکړی کـومه چه د یوې ژبی په عبارتی سیستم کښی دیوې برخې په توگه دویو (مورفیمو) ترمنځ موجوده وی او هم د دغې ژبې په مضمونی سیستم کښی مقایسه کیدونکی واحدونه وی. په عبارتی سیستم کښی مورفیم (ویه) یو کوچینې واحد وی، کوم چه د مضمونی سیستم له هرې بـرخې سره مستقیماً ملزومیدلای یا تړل کیدلای شی.

COSRELATED

د «معنا» د اصطلاح استعمالونـه به بېله احتیاطه څخه پـه معـمول آشنا مفهوم سره په ځینو حالاتو کښی بالکل غلط فهمه وی. سره له دې به هم، که په احتیاط سره استعمال کړه شی، په ډیرو مثالو کښی به دیوه کیدونکی اټکل یا تخمین غوندې کارور کړی. ښایی د مثال په توگه دې وویل شی چه «سپی» د نوروشیانو په منځ کښی تر هغه مهاله پوری یـوه مـعنا لـری څو یوه ټـاکلی راز حیوان ته راجع کیږې. مگر دغه وانسانانو ته هم د ځینو ټاکلو مشخصه خصو صیاتو له مخې څخه راوړل کیږی. ښایی چه «ځی» دې هم په د غسې مفهوم کښی و یوې مشابهې غوندې معنا تـه وویـل شـی، تر څو چه (د نورو شیانو له منځه څخه) دیوه شی و حرکت ته راجع کیږی. مگر دغه مشکله او حتی بی ثمره ده څو زیار و کاږو چه پوره معلومه کړو، دغه و کوم راز حرکاتو ته اشاره کوی. مثلاً دغه لاندی جملې سره مقایسه کیء: دی کور ته ځی. ښایسته خان له تورپېکی سره ځی، دغه او به چیرې ځی؟ او هغه موټر چیرې ځی؟ دغه په رشتیا سره دیوه ثابت او بې حرکته شی له پاره هم را تلا ی شی، لکه: دغه سړک و کند هار ته ځی (۱). دغه ټوله اختلافونه چه وخارجی نړۍ ته راجع کیږی، هریو په خپل ځای کښی حسابیدلای شی، او داسی ادعا کیږی چه یوه پښتو ژغیدونکی دغه زده کړی دی څو مضمون له داسې یوې لارې څخه ترکیب کړې چه دغه دخپلی تجربې مخالف عناصر په یوه واحده کته گوری کښی سره راولی. د «ځه» معنا پر هغې داخلی رابطې باندی، چه د «ځه» دمورفیم (ویه) او په مضمونی سیستم کښی

(۱) یو انگلیسی مثال ئې THEWATCHGOES یعنی ساعت (ځی) چلیږی، دغه ښه ښولای شی.

د هغې نقطې تر منځ چیرې چه دغه دوه شیان سره یو ځای کیږی ، اتکاء کوی.

۱۰ـ دیوې ژبې مضمونی سیستم په مستقیم ډول سره دلیدلو وړ نه دی، دغه رنګه نومـوږ کولای شو چه یوازی پر دغه راز بیان ،لکه لږ څه دمخه چه در کړه شو ،په ډیره مشکلی سره غور و کو .خو سره له دې هم دغه ګټوره وظیفه اجرا کوی: ولې بیا به هم دغه داسی چه پر ترجمې باندې ددې له پاره اعتماد کول څو و معنا ته ورسیږې، په بر خلافه یوه واضحه خبرتیا او ټونګر پینه وی .

که چیری د مضمون ساختمان د عبارتی سیستم او بشری تجربې تر منځ یوه صافه (فیلتر) ایږ د ې ، نو ترجمه به هرو مرو دوه دغسې فیلترونه کښیږ دی .

ترجمه به یوازی په هغه ځای کښی صحیحه وی ،چیری چه د دوو ژبو مضمونی ساختمان مطابقت سره و کړی .

مګر دغسې ځایونه نو چه بـایدسره نژدی وی، خورا نادردی .چیرې چه باید ترجمه هرومرو استعمال کړه شی (د عملی ژبې په کار کښی دغسې ډیر مثالونه شته) نو استعمالونکی یې باید دغې و مقابلو خزو ته همیشه ځیر او نګران اوسی.

(۱۱)ـ په ځینو هغه ویو (مورفیمو) کښی چه «معنا»ئی دبشری تجربې وخارجی ادراك ته راجع کیږی ، نو هلته ددغې ویـی معنا پر مخ یا په لویه پیمانه سره نه شوموندلای مثلاً د«چه» ویه په «زه غواړم چه ولاړ شم » یا«زه غواړم چه وځغلم » کښی و ګوری :. د «زه»،«غواړم»«ولاړشم» یا«وځغلم»عناصر دپښتو دمضمونی ساختمان وسیله سره دبشری تجربی ومنظرو ته راجع کیدونکی دی . مـګرد غـه نا ممکنه ده چه موږ دی نو په دغسی حالت کښی یو داشانی مخصوص عامل پیدا کړو چه هغه دی نو «چـه» له پاره د«معنا»په توګـه وګڼل سی. سره له دې هم «چـه» یوه مهمه وظیفه لری چه بیله دغه څخه «✲زه غـواړم لاړسـم.» یا«✲زه غواړم وځغلم.»(۱) معنا نه لری. ✲(دغه نخښه دې له پاره استعـمالیږی چه و کوم راوړه سوی شکل ته سی اشاره کوی چه یا دغه شکل صدیق کړه سوی نه دی او یا نا ممکن پیژندل شویدی.)«چه» په دغه ځـای کښی تش دپښتـو ساختمانی غوښتنه ترسره کوی ، ځکه چه بیله

(۱)دغه مثال په پښتو کښی تر «چه» په «و» سره بنـه افاده کیدلای شی مثلا په :زه غواړم ولاړشم یا زه غواړم چه وځغلم. کښی «و» راتلای سی مګر په ✲ زه وتلای شم یا ✲زه وځغستلای سم . کښی نه سی راوړل کیدلای . او هم زه غواړم ځغلم او زه غواړم لاړسم بیله «و» څخه خوشی ایسی. (پ)

«چه» څخه «ولاړسم» یا «وځغله وځغلم» په «غواړم» پسی نه شی راتلای. د «چه» دغه شان وظیفه د «معنا» په وارثی ـ معنا کښی نه شی شامليدلای، مګر په هغه (د مضمون او عبارت د مشترکی رابطی ترمنځ) مفهوم کښی چه موږ ئی استعمالوو، او بنایی چه د معنا په لړ څه وسعت سره دی دغه درك کړای سی.

۱۲ـ بنایی چه د «پیشی» معنا دی ویوه غیر پښتو ژغیدونکی سړی ته، په داسی توګه چه هغه حیوان ته پر کوم باندی چه دغه نوم اطلاق کیږی، اشاره وشی (څوتر یوې اندازې پوری متیقن کیږ ی) واضحه کړه سی. مګر دغه بیا امکان نه لری چه د «چه» معنادی په دغسی ډول سره واضحه کړو. نو د دغه پرځای باندی داضروری ده چه یوشمیر د استعمال حالتونه ئی راوړو. داسی حالتونه په کومو کښی چه بنایی دغه راوړل او یا هغه چه نه سی پکښی راوړل کیدلای (مثلاً، ✻ زه کولای شم چه ځم یا زه چه تلای شم او ✻ زه چه وځغستلای شم.

له دې پلوه نوموړ ویلای شو چه «چه» یوه خصوصیتی وېشنه لری د خارجیانو له پاره د دغسی، یو مورفیم (ویې) ویشنه په خوراسانی سره مشاهده ـ کیدونکی کړه وړه لری او سره بېره پر دغه باندې ئی ومعناته یوه لار پرانیستو نکی اشاره هم ده.

د «چه» ویه په خپله خصوصیتی وېشنه ـ کښی یوازی نه ده. هر ه ویه د خپل ځان له پاره خصوصیتی وېشنه لری. مثلاً د «پیشی» ویه په «مایوه ـ ولیده.» جمله کښی واقع کیدلای سی مګر نه په «زه کور ته.» جمله کښی. خو «ولاړسم» بیا په لمړ ی جمله کښی نه راځی او په دوهم کښی راتلای سی د دغې ویې وېشنه د ټولو هغو عباراتو مجموعه ده په کومو کښی چه د غه واقع کیدلای سی، او په برخلافه د هغو عباراتو په کومو کښی چه د غه نه سی واقع کیدلای د هر مورفیم بشپړه زده کړه د دغه وېشنه او هم د غه رنګه ئی د آشنا مفهوم معنا په بر کښی نیسی. دا چه یو بنه قاموس همېشه د مثالو مشرح استعمال راوړی یا داسی چه ګټور تیائی خو را محدوده او حتی تېرایستو نکی نه وی، تقریباً د غه سبب لری.

۱۳ـ کیدلای شی چه په یوه ژ به کښی د ویې (مورفیمونه) یوازی د مختلفو نمونو د مقایسی له مخی څخه سره تطبیق کړه سی که د وې یا ډیری داسی نمونې پیدا کیدلای شوای چه په هغو کښی د عبارات ځینی کړه وړه وی او د وې ټولی نمونی ور کښی برخه ولری او ځنی د مضمون کړه وړه پکښی وی چه ری چه په دوی ټولو کښی مشترك وی. پس نو د دوی ترمنځ یو لزومیت پیدا کړه شویدی ء، او د غو نمونو به د امتحان له مخی

څخه داسی مطابقت سره کړی وی چه هغه به هم مورفیمی او معنوی وی. مثلاً: ښځی، غوښی، لوږی، سږی او نوری ټولی داسی د «ی» په درلودنه او معنا (دوې یا ډیری) کښی سره یوشانی دی له دې پلوه نوموږ «ی» دیوه مورفیم غندی چه د «جمع» معنا ورکوی، تطبیقو و. دغه واقعاً کافی نه ده. ولی سر بېره پردې باندې به دنمونو دمطابقی معنا او مضمون ترمنځ څه اختلاف موجود وی، چه ځینی له دغو څخه امتحانی ویه لری او ځینی ئی بیانه لری. د «غوښی» مقایسه به هغه مثال پر کوم چه موږ اوس داغه وو بحث وکړ تصدیق کړی. نو یو دغسی شرط چه ضروری وی په دغو پسې وایو (کلمو) سر ښوول شویدیء: غالبوزه، غوباړی غوماشه غونډل، غڼې. او س به دغه خوشی ملنډی وهل وی څوو وایو چه نوموړی ټولی وایې په سر کښی «غ» لری او هم ټولی دحشراتو پر ځینو اقسامو دلالت کوی، پس نو «غ» به هرومر یوه ویه وی. مگر موږ (دژبی د اصلی زغیدونکو غوندی) ځکه دونه پوهیږو چه: البوزه، وباړی، وماشه، ڼی اوونډل دویو (مورفیمو) په توگه وجودنه لری چه دغه «غ» به له هغو وایو سره مرسته کړې وی. بالاخره دغه ضروری ده څو یقین کړه سی چه هغه څه چه موږ مجزا کړیدی واقعاً نسبت وتر کیباتو ته واحدی ویې دی. (پنځمه وېشنه و گوریء) هغه لاری چه ددغسی یوی تجزیې له پاره پکار وړلی کیږی په ورو ستیو دوو څپر کو کښی به طرحه کړه شی.

۱٤ـ کله چه څوك په خپلی اصلی ژبی بوخت وی نو ددغی ډېر شیان زایدورته ښکاریږی. دغه صرف له دې پلوه چه دغسی مقایسې په وارو وارو او په تحت الشعورې ډول سره (که چیری شعوری نه وی) پخوالا شویدی موږ کولای شو چه دپښتو مور فیمو نه دی بېله تشریحی مقایسې څخه سره تطبیق کړو، ځکه چه موږ دمخه لا ډیر له دوی څخه سره تطبیق کړیدی. دغه رشتیاده چه حتی په غټو هلکانو کښی لا هم یوراز عامی غلطی لیدل کیږی. یو هلك اوری اوزد کوی ئی چه:

ژړه وی - وژړاوه؛ نړه وی - ونړه وه؛ بږه وی - وبږاوه؛ لټوی - ولټاوه کیږی. پسله دې ئی نو دی داسی ګڼی چه «مړه وی» هم هرومرو په دغه ډول سره جوړیږی او «ومړاوه» راځی. رشتیا هم دی ددغه په تشریح کښی غلط دی، مگر دقاعدې له مخی څخه صحیح دیء، او په ښکاره سره ئی یوه مورفیمی تجزیه کړیده. خو دی باید هغه حدود هرومرو وپېژنی په کومو کښی چه

دده پیدا کړې نمونه معتبره او صحیحه ده

۱۵ ـ ځینې تاکلی ساختمانونه چه له ویو څخه ترکیب شوی وی، یوټینګ ثابت ترتیب لری ـ دمثال په توګه: کښې ـ ښو ـ ونه (کښېښوونه) یوه پښتو آشنا وایه ده (چه دمنځ کرښکی ئی تش ویې سره بېلوی). مګر ✻ ښو ـ کښې ـ ونه ـ یا ✻ ښو ـ ونه ـ کښې یا ✻ کښې ـ ونه ـ ښو بیا دغسی وایی نه دی. دوی نه یوازی په آواز او ښکاره کیدو کښې ناآشنا ایسی، بلکه دغه رنګه: ویوه اصلی پښتو زغیدونکی ته واقعاً بی معناهم دی دیوی وایې معنانه یوازی په موجودویو پوری تړلې ده، بلکه دغه رنګه دروی دوقوع په ترتیب پوری هم اړه لری.

نورساختمانونه بیاپه ترکیب کښې څه آزادی لری چه هغه هم جزوی ده. مثلا «بیانوزه ولاړم» اویا «زه نوبیاولاړم» چه دواړه شکلونه ئی ممکن اوپه معنا کښې خورا لږ توپیر ځله لری. مګر د «ولاړم بیانوزه» ترکیب دپوهیدلونه دیء، ځکه چه د پښتوله مقرر ساختمانه څخه پر بله خواځی. په عمومی ډول سره هغه ډیر سره نژدی ساختمانونه لکه کلمات (وایې) خوراټینګ ثابت ترتیب لری، اوهغه لږ سره نژدی اوډلی ساختمانونه لکه جملې، ډیره آزادی لری. مګر ډیری اوزدې سلسلی په خپل ترتیب کښې ځینې تاکلی محدودیتونه لری او کله بیا دغه په یوه ساده قسم کښې هم وی. دمثال په توګه: ځلمی راغی. دی بیرته ولاړیء. کیدلای شی چه ووایو ځلمی دواړه کارونه کړیدی.

مګر که ووایو چه: دی راغی. ځلمې بیرته ولاړیء.

یقیناً هغسی معنانه ورکوی. و کوم چاته یو مخصوص نسبت ورکونګ باید هرو مرو په دغه سړی پسی یو ضمیری نسبت ولری، مګر چیری چه بېل تعبیر ورته راوړل شوی وی. دغه نو د پښتو ساختمان یو خصوصیت دیء، نه د منطقو اونه د وینا دعمومې طبیعت، ځکه چه ځینې نوری داسی ژبی شته چه هغه بالکل بل راز قواعد لری.

۶۱ ـ په تاکلو ساختمانو کښې دمورفیمو (ویو) ثابت ترتیب او دهغود آزادی محدوده درجه، د یوې ژبې له پاره اساسی ده. دوی د هغه قاعدوی ترکیب عبارتونه دی کوم چه حقیقتاً د ویناجوهر بلل کیږی. دا د ژبپوهنی وظیفه ده چه دغه د ترتیب قواعد په خوزا فهمیدنی او مختصر ډول سره، څرنګه چه ممکن وی، بیان کړی چه یو دغسی بیان نود ژبی ګرامر بلل کیږی دغه اصطلاح تر یوې اندازې پوری ناقص شهرت لری.

یوله دې پلوه چه په استعمال کښې ئې دقت نه کیږی، او بل له دې پلوه چه د قانون د یوې وصیت نا می په توګه ئې مسلسل داسی کار ور کړیدیء چه ژبه باید څرنګه استعمال کړه شی، نه نسبتاً یوداسی بیان غوندی چه ژبه څرنګه استعمال شویده. رشتیا هم په دغی اصطلاح کښې دغه دلالتونه ذاتی نه دی، مګر دغه ضروری ده چه ددوی په ساتنه کښې احتیاط وکړو. لکه څرنګه چه ګرامر په دغه لیکنه کښې راوړه شوی دی پر دوو ښاخو باندی مشتمل دیء، چه دغه دواړه په ښکاره ډول سره محدود یدو نکی نه دی: یو ښاخ ئې صرف Morphology دی، چه دغه د ویو د ډیرو سره نژدو لنډو ترکیبو بیان دیء، چه په ساده او آشنا ډول سره وایی (کلمات) بللی کیږی.

بل ښاخ ئې نحو Syntax ده چه د اوږدو ترکیبو بیان دیء، چه هغه د ژبې د صرفو تر نامه لاندی بیان کړه شوی ترکیبو نه د اساسی عناصرو په توګه را احاطه کوی. ځینی ژبپوهان دغه د صرفو اصطلاح داسی استعمالوی چه پر دواړو ښاخو باندی مشتمله وی، او په دغه حالت کښې نوله ګرامره سره، لکه څرنګه چه دلته استعمالی شویدی، یو شانتیا او برابری کوی.

۱۷ - د یوې ټاکلی ژبې ګرامر د هغې د مخصوصو ویو (مورفیمو) د ترتیب په شرایطو کښې په مناسب ډول سره نه شی بیا نیدلای ځکه چه په هره ژبه کښې د ویو د شمیر مجموعه دونه غټه ده چه دغه نه شی پسی رسیدلای. په هره توګه خو دغه همیشه داسی ده چه ویې هره یوه په معینو طبقو کښې د خپلو خصوصیتو د وپشنی له مخی سره دسته بندی او لاړ کیدلای شی. چه تر دې وروسته دی په ژبه کښې وینا د مورفیمو (ویو) د دغو طبقو په شرایطو کښې بیان کړدشي. په دغی طریقې سره نو هغه مواد چه باید هر و مرو بیان شی، واداره کیدو نکی تناسبوته را کم شویدی.

د مثال په توګه: تلل، وړل، غوښتل، ښول او نور داسی چه د ویو ډیره لویه طبقه جوړوی دغه رنګه «ې» (چه حال، غایب، مفرد سړی ښیی)، «یء» (چه جاری ماضی، غایب، مفرد ښیی) او «نګ» بیا بله طبقه جوړوی. وروستنی «نګ» په پورتنیو کلموپسی (یائی په معادلو پسی) داسی موښتی راځی چه د هغو «ل» لویږی او «نګ» پوری مـ وښـل، لـکه تلنګ، وړنـګ، غوښتنګ، ښونګ. د لومړی ډلی غـړی، د یوه څخه د دوهمی ډلی تر غړو د مخه سره

راځی ،لکه: تلیء،وړیء،غوښتیء،بېویء اویا ښایی چه یوازی دی وی،مثلاً وړنګ، وړی وړیءاو وړل چه ټوله ور کښې راځی. مګر په نګوړ،✲یوړ،✲یء، وړ کښی ترتیب غلط او دغه شکلونه غیر ممکن دی . دغه رنګه «✲وړینګ» هم دمنلونه دیء،ځکه چه «نګ» په «ی» پسی نـه شی راتلا ی . دغه شانی «✲غوښتی» (دغایب،حال، مفرد سړی لپاره) هم نه دیء لیدل شویء، ځکه چه « غوښت » په یوې بلی ډلی پوری اړه لری ، چه د هغې ډلی په ثا بت شکل پسې «ی» نه شی را تلاې ټولی دغسی پیښی او ډیر نوری د غه راز ،په نسبی ډول سره ، په څو ساده بیانو کښې چه هـغه دویو دطبقو پـه شا ؤخوا کښې وی ، شاملیدلای شی . دټولو ممکنو اوغیر ممکنو زوغی سلسلو پوره لټول به ، حتی که په پښتو پوری بیخی منحصری نمونې هم وی ، خو بیا به هم له بله پلوه څخه دغه ویې (مورفیمونه) چه تماس ورسره شویدیء، وارپه وارډیریږی چه په دغه سبب سره به نو کار مشکل اوخورا ژربه مطلق ناممکنه شی .

۱۸ـ په پښتو کښې د ویـو (مورفیمو) پراخ ترینی اوخورافهمیدنی طبقې چه تقریباً دنړۍ په ژبو کښې ډیرې عمومی دی ،هغه ریښی Roots او تړ ونې Affixes د ی . لکه تلل ویل، کول اونوری د اسی چه دریښو یوه ډله ده ،اولار، رپ،خوا اونوری داسی بیا د ریښو بله ډ له جوړوی .په پښتو کښې ریښی خورا اکثریت لری.چه شمیریې بیخی وزرو نوتـه رسیږی .نوری ویې لکه :«ی»،یء،نه، نګ او نور داسی بیاتړونی دی. تر دې وروسته بـه تړونی پـه معمولی ډول له کرښکو Hyphen سره راوړل شې،څوهغه وضعه وښیی د کومی له مخی چه دوی «تړل» شوید ی .

دغه دوې ډلی کومی چه په عام ډول سره استعمالیدونکی دی، تعر یف بـه یې خورا ګډوډ او ښا یی چه په دې ځای کښې دی راو ړنه ضروری هم نه وی . مګر یو داسی تعریف چه هغه دیوې خاصی ژبې له ضروریاتو سره سر و خوری ، معمولا کیدونکی دیء . په عمومی ډول سره «تړونی»د « ریښو» متمم دی، اوریښی بیادداسی ساختمانو ، لکه وایې چه دی، مر کز تشکیلوی. «ریښی» تر«تړنو» ډیری اوږدې اوعموماً په الفاظو یا کلام کښې هم خورا ډیری وی .

۱۹ـ دلته دتړونو دوه قسمونه تعریفیدلای شی ، چه دغه دواړه په پښتو او ډیرو نوروژبو کښې پیدا کیږی،لومړی سر تړونی PREFIXES

داهغه تړونی دی، کوم چه ترهغور یښودمخه راځی له کومو سره چه دوی خورا نژدې تړل شویدی. لکه «سر» په «سرتړونی» کښې، «را» په «راوړل» کښې او «اې ـ» په «ایسته» کښې. دغه رنګه سرتړونی په نور و ژبو کښې هم عام دی لکه په- انګلیسی کښې re-turn, pre-fix او in-complete: دو هم- ورو ستړونی، دا بیا هغه تړونی دی چه دو نی ترهغو ریښو، له کومو سره چه خورا نژدې تړل شویدی، وروسته راځی. چه ځینی پښتو مثالونه یې دادی: لکه «ـی» په ورو ستړونې (جمع) کښې، «- نګ» په تلنګ کښې او «-ینه» په هلکینه کښې دغه - وروستړونې په ډیرو نورو ژبو کښې هم عام دی. مثلا په انګلیسی کښې boy-hood go-ing, Suffix-es او نور دا سی.

۲۰- ودی شی چه تړونی مستقیماً د ریښو یاد هغو ساختمانو ته چه هغه یوه ریښه او سر بېره پردې باندې یو یا ډیر نور مورفیمونه (ویې) لری، ورزیات کړه شی.

ښایی چه دغه دی نوټولی «تنې Stams.» وبلل شی. تنه Stem عبارت له هر هغه مورفیم (ویه) یا دو یو له هغه ترکیبه څخه عبارت ده، و کو مو ته چه یو تړونی وراچول کېدلای شی. دپښتو وا یه «خېښان» یوه تنه «خېښ» چه دغه رنګه یو د ریښه هم ده، اود «ـ ان» یو تړونی لری. مګر «خوښینی» بیاد «ـی» یو تړونی لری او یوه تنه د «خوښینه» چه یو ه ریښه نه ده، ولی چه پردوو یو باندی مشتمله ده ځینی تنی یا وایې بیادوې یاډیرې ریښی لری چه دوی ته «ترکیب Compound» ویل کیږی. مثلاً «ښامار» یوه مرکبه کلمه ده چه د «ښا» او «مار» دوی ریښې لری مګر «ښا ما ر ا ن» بیا یو ه مر کبه تنه ا و یو تړونی لری.

۲۱- په ځینو ژبو کښې تا کلی تړونی شته چه اصلاً د «تنو» جوړولو وظیفه اجرا کو ی او په دغسی ډول سره نو دژبپوهنی تړ ند ې څه بل رازمعنا لری. ښایی چه دغسی ویې دی نو تنه ایز مشتقات Stem-formatives وبلل شی. دیونانی «ترموس» یا «ترماس» (تود) کلمه پر یوې ریښی «نرم ـ» یوه تنه ایز مشتق «ـی ـ» او یوه آخرنی تړونی «ـس» باندی مشتمله ده. وروستی ئـی دنورو شیانو له مینځه څخه و دې تـه اشا ره کو ی چه کیدلی شی دغه وایه دې د جملې مبتداء یا فاعل وی. چه مستقیماً په ریښې پورې نشی تړل

کیدلای . یعنی د« ✻ تر مس » شکل ئـی ناممکن دیء . په یونانی کښی له دغه قسمه تنه ایز مشتقات ډیرعام دی .

(بنایی د پښتو مثال دی ئی « خپلوی » راوړلای شوای ، چه یوه ریښه د « خپل ـ » یوتنه ایز ـ مشتق د« ـو ـ» اویووروستړونی د«ـی»لری (وتنه‌ایزمشتق‌ته‌موږ«منځتړونی» هم ـ ویلای شو)اود غه‌د«ـی » وروستی‌ویه‌ئی لکه‌په‌یاری ، دوستی، دښمنی کښی مستقیماً له ریښې سره نه تړل کیږی .)

یونانی مرکبی وایې عموماً تر ریښو له مرکبوتنوڅخه جوړ شویـدی . انگلیسی وایې له یونانی څخه‌راوتلی دی‌اویا پریونانی نمونو باندی جوړی شویدی، چـه پـه عام ډول سره دوایی آخر ور و ستړونی ضایع کوی او یا یې اړوی ، مگر د لومړی تنـی منځتړونی (تنه ا یز مشتق) یا ملا تړ و نی عموماً خورا ښکاره دیء . مثلاً ترما میترله « تر ما ـ » تنو او « ـ میتر » و رو ستړونی څخه جوړ شویدیء . لومړی ئی د« ترم ـ » له‌ریښې‌څخه‌دتنه ا یز « ـ ٦ ـ » په ور علاوه کید لو سره تشکیل شویدیء . دغه « ـ ٦ـ » په هغو وایو کښی چه له دغه قسمه څخه‌وی په خورا عام ډول سره واقع کیږی ، لکه په دغو وایو کښی :

مار فالوجی (مور فولوجی)،جیو گرافی (جیاگرافی) فیلاسوفی (فیلوسوفی) اونور داسی .

په دغه ځای کښی نو ـ ٦ ـ یوه دتوجه وړ وایه ده او په انگلیسی کښی هم یوه ویه ده ، مگرنه له دې پلوه څخه چه په یو نا نی کښی ده ، ځکه چه د انگلیسی سا ختما ن ټاکلی واقعې دغه غوا ړی چـه د غسی د ې ترجمه شی . موږبه‌د «ترمامیتر» په دغه ډول وېشنه سر ه قا نع نه شو ، که څه هم د غه « ترما ـ میتر » او یا « ترم ـ امیتر » وی: ځکه چه د«ایسوترم» مقا یسه کونگ‌وموږته دغه راښیی‌چه« ترم»یوه‌ویه‌ده . مگر« میتر » کولای شی چه یوازی دی د یوې و ا یې په توگه هم را شی .

د ـ ٦ ـ دویې یونا نی اصل به ښا یې چه ددغه انگلیسی کړه‌وړه‌په تاریخی‌فهم‌اوښوونه کښې برخه واخلی ، مگر بیله‌دغه څخه په انگلیسی پوری څه‌اړه نه لری ،

۲۲ـ ځینی ویې (مور فیمونه) بیاپه‌ټولو عبارتو کښی یوواحدشکل لری ، چه یومثال ئی د پښتو « ـ نگ » د ی لکه پَه‌تلنـگ ، و ړ نگ ، چیښنگ ... اونگلسی‌مثا ل ئـی

« ینگ » دی لکه په Coming و going او نورو کښی .(دا چه ځینی و یو نکی دانگلیسی « ـ ینگ » په « ین » یا « یین » سره تلفظ کوی ، د غه موضوع تغییر نه خوری . بالخصوص ، یوڅوك چه «ینگ» په ټولو ژ بنیو عباراتو کښی دغسی تلفظ کوی، نو دی ددې رعایت نه کوی چه دی کوم تلفظ استعمالوی .)

په نورو درسو کښی به ښایی دتوجه وړ مثالونه موجودوی. دانگلیسی دجمعی « ـ S ـ » په در ومعمولو مختلفوډولو سره تلفظ کیږی لکه په بوایز BOYS چه /ز Z / دیء؛ په کېټس CATS کښی چه «س S » دیء او په روزیز ROSES کښی بیا »یز IZ » راځی. یالکه په پښتو کښی چه داضافت ویه « ز »دری راز را وړل کیږی مثلاً په « ز ما » کښی « ز Z » ؛ په « ستا » کښی « س S » ؛ اوپه « دده » کښی « د D » دیء . ددغه توپیر په عوض کښی چه په شکل کښی ئی لری ، د ژبی هر اصلی ږغیدونکی به بالکل متیقین وی چه دغه د ر ې واړه په مفهوم کښی سره یوشی دی . دژ بې د اصلی ږغیدونکی دغه تصور او گڼنه د هغی لا ر ی دازموینی په وسیله سره په کومې کښی چه دغه درې واړه استعمالیدله ، تائیدشویدی.دموادو دلویو ټو کو پلټنه به دغه ښکا ره کی چه « یز IZ ـ » یوازی تر « س ، ز ، ش ، ژ ، چ او ج » ورو سته واقع کیږی اونور هیڅ په دغه ځای کښی نه شی راتلای ؛ دغه رنگه « س S » تر «پ،ت،ك، ف ، او ث » وروسته راځی اوبل هیڅ یو دلته نه و اقع کیږی ؛ اودغسی بیا « ز Z ـ» پر ته له پو ر تنیو څخه ترټولو کانسو ننټو اوواولو VAWELS وروسته راځی چه نورنه شی راتلای .

دغه شانی دپښتو اضافی « ـ ز ـ » دمتکلم تر « ـ م » ـ د مخه او « س » یې د مخاطب تر « ت » د مخه واقع کیږ ی . مگر څه چه « د ـ »دیء ، پرته له«ڼی» څخه نوردپښتو ترهر راز توری د مخه راتلای شی .

دیوه اصلی ږغیدونکی له پاره ددغه هریوه انتخاب په خپل ځای کښی کورټ اټوماټیکی دی، چه خورالږ پکښی غلطیږی . په رشتیاهم دغه شعوری استعدادغواړی څوله دغو نمو نو سره مخالفت وکړی. د اهیڅ پروا نه لری چه اصلی ږغیدونکی دی دمخه دغه وایه اوریدلی وی یانه . خو هغه و رکړ ی کلام، مثلا «دوه تقسیمه» دوی اکثره «ټو تخسیمز TWOTAXSEMES » په «ز Z » سره وایی . مگردغه رازدوی ټوله دتنې (تقسیم ، تکسیم، تخسیم تفسیم)

په وینګ کښې یعنی داچه څرنګه ئی ووایی سره موافق نه دی ، خو د وروستی « س S-» په باره کښی دوی ټول داسی موافقه لری چه وینګ ئی « ز Z -» دیء .

دد غسی حالاتو په بیانولو کښی (چه دوی تکراروی) ژبپوهان دوییو (ویی ALOMORPH) اوویو (ویه MORPHEME) ترمنځ تمیز کوی.

یوویی- ALOMORPH عبارت دیوې ویی (مورفم) له هغه مغایره ډوله څخه دیء، کوم چه په ټاکلو تعریفیدونکو محیطو کښی واقع کیږی.

یوه ویه MORPHEME بیا عبارت د یوه یا ډیرو وییو- ALOMORPH (الومورفو) له ډلی څخه ده (چه عموماً په وضاحت سره پیژندل کیږی) کومه چه دویشنی او معنا پر ټاکلو معیارو باندی تطبیق کیږی . دغه رنګه نو پورتنی « S-»؛ « Z -» او «iZ -» درې سره د یوې واحدی ویی (مورفم) ویې (الومورفونه) دی .دوی ځکه دغسی دی چه یوه معینه تعریفیدونکی وېشنه ښیی، هغه چه دمخه ذکر شویده او هم ځکه چه دوی درې سره یوشانی معنا لری .

۲۳-دوییو او ویو او دغه رنګه د نورو ویو او وییو مننه په تشریحی ژبپوهنه کښی ، یوه له خورا اساسی واحدو څخه ده . دژبې په داخلی عملیه کښی د دغو دواړو اهمیت هم د آلې او هم د بصیرت غوندی په مشکلی سره تخمین کیدلای شی. دغه دژبنی بیان تر دوو اساسی عناصر و یعنی ږوغ (فونیم) اوویې (مورفیم) دواړو وروسته راځی او دغه رنګه تر نورو لږو منلو واحد ولکه ګرافیم GRAPHEME وروسته راځی . دغه مشموله قاعده دژبنی تیوری او تخنیك دلوړ پرمختګ له پاره په وسیعه پیمانه سره مسؤله ده. په ټاکلو مربوطو انتظامو کښې د دغې مننې دنه استعمال سبب هغه کره متغیر عامل دیء (لکه څرنګه چه ئې موږ اوس له ډیر لیری څخه پېژنو) چه دژبپوهنی د علم او دبشری سلوك دنورو معاملو ترمنځ وجود لری .

۲٤-هرې هغې پیښې ته چه [illegible] له په ټاکلو تعریفیدونکو شرایطو کښې واقع شی، مشروطه CONDITIONED ویل شویده. دغه له هغو ویلو سره چه وایې نوموړی شرایط یې سبب شویدی څه شباهت نه لری. ټول هغه چه استعمال شویدی دوی هغه دی چه په ځینو خواوو کښې یوځای سره واقع کیږی، دغه رنګه نو څوك کولای شی چه دیوه له مخې دې د بل یوه پیشګویې وکړی. مثلاً «چیری چه دودوی، هورې اور وی» او «چیری چه اوروی، هورې دودوی» چه دغه دواړه بیانونه شرطی دی.

کیدلای شي چه له دوی دواړو څخه دې یو بیان سببي وي ،مګر ددی ضرورت نه شته څو فرض ئې کړو چه کوم یو یې حتماً دیء .

دجمعې دویې (مورفیم) درې سره ویې (الو مورفه) « z ـ »، « S ـ » او « iz ـ » مشروط دی ولی چه هر یو یې هغه مهال واقع کیږی چه تا کلی ښکاره پیژندلې شرطونه واقع شي. په دغه صورت کښې نو شرطی عامل دمخکښې مورفیو (ویو) زغی طبیعت دیء. مثلا « z ـ » یوازی تر زغوالا آوازوروسته راځی؛ « S ـ » بیا یوازی په بی زغو آوازو پسی راځی؛ او « iz ـ » نو یوازی تر غوچو موښېدو نکو او موښلو آوازو وروسته راځی. له دې پلوه څخه نو موږ ویلای شو چه دوی د زغپو هنی له مخی مشروط دی دغه معنا داچه که موږ د وېشنی په واقعیتو وپوهیږو نو په صحیح ډول سره کولای شو څو پیش ګویې و کړو چه کوم یو به له دغو دورڅخه په هر هغه ځای کښې چه یو له دوی څخه راځی، واقع شي. بیا نو موږ هم دانګلیسی داصلی زغیدونکو په توګه دغه انتخاب ،غیر شعوری او په اتوماتیکی ډول سره کولای شو. موږ هم باید د ژبپوهانو غوندی دخپلو عاد اتو یو تشریحی بیان، قاعدوی جوړ کو او بیا نود دغه بیان پر اساس تو باندی په غور سره یو خاص انتخاب و کو. یو رسمی بیان هم یوازی له د ې پلوه معتبر دیء چه دغه داسی نتیجه ور کوی لکه داصلی زغیدونکو تحت الشعوری عادت چه یې و ر کوی.

دغه اتوماتیکی انتخاب دانګلیسی ساختمان یوه برخه ده او باید زده کړه شي، که څه هم داسی ښکاریږی چه دغه دی «صرف طبیعی» وی، ولی چه ویوه خارجی سړی ته به دغه بیخی ډیره غیر طبیعی وایسی. په رشتیا هم دغه دانګلیسی عمومی کړه وړه نه دی. دورجینا په شنه لاړ غرو کښې « IZ ـ » یوازی تر /IH و ZH و SZ و Z و S/ وروسته نه استعمالیږی بلکه دغه رنګه تر /SK و SF و SP/ وروسته هم راځی. دغه رنګه نو واسپس WASPIS؛ پوسټس POSTS او ټاسکس TASKS په دې ډول واسپیز WASPIG پوسټیز POSTIS او ټاسکیز TASKSS ویل کیږی، نه لکه پوسټس و اسپس او ټاسکس چه په نورو لهجو کښې دغسی وینګ لری. په هره توګه خو په دواړو لهجو کښې دغه شکل د زغپو هنې له مخی څخه مشروط دیء او همداشانی په دواړو کښې دغه انتخاب پوره اتوماتیکی او خورا با قاعده دیء . دوی صرف سره مختلف دی او دواړه هر یو وخپلو زغیدونکو ته پر مخ طبیعی ایسی .

۲۵ـ ودی شي چه دویو (الومورفو) انتخاب

دی هم دغه رنګه صرفاً مشروط وی. په دغه صورت کښې نوانتخاب دهغی ویې یاو یو په ذریعه کیږی (نسبت دژغپوهنې و کړه وړوته) چه‌عبارتونه جوړی. د«زوی» جمع «زامن»ده او / ـ من/ دجمعی دویې (مورفیم) یوو یی (الومورف) دیء، چه یوازی له دغی ر یښې (زوی) سره‌استعمالیږی.دپښتو اصلی‌ژغیدونکی له دغی وایې‌سره آشنادی (دغه‌یوضعیف‌اقلیت دیء اوپه دغه‌نسبت سره‌نودیوه گرامری‌مثال په‌تو گه‌استعمالیږی!) او/ـمن/ئې‌په‌اتوماتیکی ډول‌سره د / زوی/ په‌جمع انتخاب کړیدیء اود دغه پرځای باندی‌ئې* زویان‌غلط بللی اوتېر کړی یې دیء .ددغی جمعی دانتخاب په باره کښې هیڅ شی دژغپو هنې‌له نه سته. مگربوی، شوی، لوی‌چه دژغپوهنې له مخې ورسره یوشانی دی‌خودجمعی له پاره /ـ ان/ ور سره استعمالیږی. ځکه نودغه خصو صیت یوازی د/ زوی/ وویې (مورفیم) ته‌دیوې‌ویې (مورفیم)په‌تو گه ورپاته کیږی؛اودغه انتخاب نوصرفاً مشروط دیء ،

۲٦ـ دوییواوویو مننه له اوږ دواو پېچلو عبارتوڅخه دژغورنی‌له‌پاره‌ځینی اضافی‌نخښې لازموی.هغه‌تغییر اوتوپیر چه‌دوییو (الومورفو) ترمنځ‌موجوددیء ، په‌دغی علامې سره‌ښوول کیدلای شی،چه دغه نوپه«تغییرخوری» یا«اوړی په» یاپه سا ده «یا»سره ویل کیږی. نوموږداسی لیکوچه/iz- S- z -/ یا د پښتو اضافی‌ـ/ذ -س- د/ داراښائی‌چه دغه درې سره دیوې ویې(مورفیم)ویې (الومورفه)دی دغه‌رنګه‌دغه‌نخښه ،ویې(مورفیم)دیوشی والی له پاره هم استعمالیدلای‌شی .

که‌یوه‌ویه(مورفیم)ډیرې‌ویې (الومورفه) ولری، لکه څرنگه چه‌اکثره‌ئې‌لری، نودغه خوشی چتی‌ده چه هر کله که د مورفیم نو م ذکرشی، دوی به ټول‌ورسره راوړل کیږی . ددغه پرځای باندی نودا مطلوبه ده چه یوه داسی سیمبولی نخښه ولرو چه هغه داشا نی مورفیم‌چه‌متضمن‌دټولوهغومتغیرواشکالووی ، په کومو کښې‌چه‌دغه څرنگندیږی، راوښیی. ددغه‌مقصدله‌پاره‌نوموږڅنگلکی [ ] استعمالوو په‌دغوڅنگلکو کښې به موږ دویې (مورفیم) هره هغه نخښه کښیږدوچه په لاس کښې‌یې لرو. په رښتیاهم کله چه یوه نخښه و ټاکل شوه، بیا نو موږ ددې واک نه لرو چه بې موجبه دی یې واړوو . د مثال په تو گه موږ دپښتوجمعی‌له‌پاره [ـی] یا [ـان] اویانور دغه راز شکلونه ددې‌له پاره داسی انتخابولای شوچه پر یوې مقررې شوې نخښې باندی یې

تطبیق کړو، او دغه مقصد ته به نوموږد [-ی ا] ویه وتا کو، چه دغه نخښه نود/- ی -ان -ګان و نه .../، دمعادلی په توګه پیژندل شویده، او بیا به نوموږ ودې ته ضرورت نه لرو چه و دغو مشمولو ویو ته دی بیا تخصیص ور کړو. دغه [-ی ا] د «ی یو ویه» په توګه ویل کیږی.

۲۷- ښایی دغه به مناسبه وی چه موږ دهغی نخښی مختلف قسمونه کوم چه دلته استعمالیږی، تکرار کړو:

لپچکی [ ] -دغه وهغې صوتی لیکنې ته اشاره کوی په کومی سره چه تلفظ یا وینګ داسی کښل شوی وی، لکه اوریدل کیږی چه، اوله دې سره نودغه لازمی نه ده چه د هغو معنادا رو کړه وړو (اشکالو) نمایندګی دې هم و کړی./ /- دغه نخښه یوه ژوغیزه (فونیمی) لیکنه راښیی، په کومی کښې چه وینګ PRONUNCIATION داشانی کښل کیږی چه د هغو تولو معنادارو کړه وړو نمایندګی و کړی، نه د کوم بل شی ځنګلکی [ ] -دغه نخښه ویوې ویه ایزی (مورفیمی) ښوونی ته اشاره کوی، په کومی کښې چه هغه فیصله شوی شکل ددې له پاره استعمالیږی چه دهری ویې (مورفیم) نمایندګی و کړی او هم یې دتولو ویو (الومورفو) متضمنه وی. او دغه نود وینګ په شاؤخوا کښې مستقیماً څه معلومات نه را کوی.

لاسی لیکنه ITALICS- دغه لیکنه املاء او صحیح لیکل راښیی، چه دغه به نو هغه موروثی او یا متداول توری وی کوم چه ښایی وږوغی (فونیمی) موجودیت ته دې ورنژدې او یا ښایی چه د وینګ په باره کښې دی تقریباً کوم معلومات رانه کړی. دغه دتورو او وینګ ترمنځ را بطه له یوې ژبی څخه تر بلی ژبی پوری تغییر خوری.

پېښ مېښ و، (پېښ له کوچینی «و» او مېښ له کوچینی سرچپه «،» یا کامې «،» څخه عبارت دی) په دغو نخښو کښې نوموږ ځینی شرحی معناوی او دباریکیو و معناوو ته ځینی نوری اشارې راښیی.

✻ - دغه نخښه وموږ ته مجهول او نا ممکن اشکال راښیی.

لپچکی [ ] او دغه // نخښه ښې ایښوولی شویدی او ډیر امریکایی ژبپوهان ئې استعمالوی ځنګلکی [ ] بیا یوه محدوده ډله ژبپوهان استعمالوی خو نوری نخښې یې هم معمولې دی. دا املاء یا شرحو -GOSSES دراوړلو له پاره کومې عمومی جوړې کړی مقرری نه شته مګر هغه نخښې چه دلته استعما لیږی، عامې نه دی.

لیکونکی:ق. «خادم» څېړندوی

پښتو تصفیه غواړی

تصفیه په ډېرو څیزونو کښې په کارشی دی. بې له تصفئې هېڅ څیز سره کېدو، او کره والی ته نه رسېږی. فطرت ډېر شیونه پیدا کوی، خو انسان پکښې اصلاح او سمون کوی، او چاندی او کره کوی ئی. لکه اکثره معدنیات چه مخلوط وی خو انسان ئی په خپل زیار او زحمت تصفیه کوی او کوټ ورنه باسی او چاندی ئی اخلی. فصلونه او کروندی هم همدغسی دی، کوم وخت چه دهقان په پټی کښې تخم وشیندی نود فصل سره یو بلا هرزه بر زه گیا وې را شنی شی چه دهقان ئی بیاد گوډ، للون او رمبی په واسطه تصفیه کوی، د کار پریږدی او ناکاره باسی. دغسی تصفیئی دژوند په ډېر و خواؤ کښې د انسان په غاړه دی چه دژبې او لیک لوست مسئله هم ورنه مستثنی نه ده. په تېرو دېرشو کالو کښې پښتو ژبه یوزل دور کوالی او هېر تیاله تیارې څخه دلیك، لوست، علم، ادب، اخبار او مجلی ډگر ته راووته. او دومره ژر د پښتو نخوا په لویه سیمه کښې خپره، او د باندینیو مملکتو د توجه او خپرونو مورد وگرځیده چه بنائی دومره ډېر ژر به د دنیا هېڅ یوه له پښتو لویدلې ژبه په خپلو پښو نه وی د ریدلې او ددې وجه بنائی داوی چه پښتویوه لرغونی او پخوا پالل شوې ژبه وه. فقط توجه ورته په کاروه. اوس د دنیا لوی لوی علماء او ډېر مراکز په پښتو کښې تحقیقات او څېړنی کوی، او د پښتو په صلاحیت او د ارتقاء په بنه استعداد او لرغونتیائی اعتراف کوی. په دې ژبه کښې ډېری ریښې، داشتقاق پراخه زمینه، د تعبیر لوی او وسیع میدان او د فصاحت او بلاغت بنه امکانات شته. داژبه په خپل کور کښې د و مره غنی او بډایه ده چه هېڅ اړتیا نه لیدل کیږی؟ چه مخلو طه او گډ وله کړی شی. بلکه لازمه ده چه د پښتنو او خپلو ویونکو علماؤ او څېړونکو په لاس وپالل او ور وزل شی؛ چه څوئی لمن ارته، او د تعبیر او مصطلحاتو ساحه ئی پراخه شی، او د علم او ادب، تعلیم او تخنیك سیاست او اداري ټول ضرویات پوره کړی شی.

اوس په پښتو کښې د و مره لیکوال، شاعران مصنفان، ترجمه کوونکی، تقریر کوونکی خطیبان، جریده چلو ونکی، ادبی انجمنونه مراکز او د تالیف او تصنیف، او د چاپ او اشاعت

اداري موجودې دی ، چه که‌لیکم ئی ډیرې پاڼی نیسی،اومونږ له‌خپل مطلبه پاتې کیږو.

دادډېرشکر اوامیدوارىء ځا ی د ی چه مو نږ خپله ملی ژبه‌په‌داسی‌حال کښی‌وینوچه ددغه ملت په یوډېر رو ښانه مستقبل د لا لت کوی. که‌مونږ یوازی په‌تیرو شلو کالو کښی هغه‌چاپ شوی‌اثاراو کتابونه‌راواخلواوفهرست ور نه‌جوړ کړو چه په‌افغانستان اوپښتونستان کښی‌طبع‌شوی دی‌نوهم په‌دې مقاله کښی به ځای نه شی . اود ارشتیا خبره ده چه په دې خلکلواومطبوعاتو کښی استاذان اوشاگردان ،پاخه او اومه ، د ژبې خاوندان، اوهغه چه ژبه ئی زده کړې ده ،اوداسی نورهرڅه شته تر ټولو غټه خبر ه د اده چه داسی کسان‌به ډېر لږبلکه د نشت په شمېر و ی چه د هغو دلیك لوست ، فکراو تصور علم ا و پو هنی ذریعه پښتووی ، یائی په‌دې لاره کښی دومره مشق اوتمرین کړی وی‌چه‌پښتوئی‌دې حدته رسولې وی ، له بلې خواداسې کسان بېخی ډېردی‌چه دهغودعلم‌ادب‌پوهنی‌اوتفکر ژبه‌بله کومه یوه ژبه وی، خو ملی محبت ، دوخت مصلحت،دې ته‌اړ کړی وی چه‌په پښتو کښې څه ولیکی ا و چا پ ئی کړ ی ، هر کله چه ددغسی خلکو او آثارو شمېر ډیر زیات دی ځکه چه‌پښتولانوی سر راپورته کړی‌دی او تر اوسه ئی معیاری اساسونه نه دی پا خه شوی، او ددې خبرو سره لا داهم‌ده چه پښتو له هری خوا څخه د متر قی او عالمی لویو او مشهور و ژبو د تهدید لاندی هم ده، چه د مذهب، سائنس،تخنیك تجارت،ادب‌او سیاست له پلوه په پښتو د پاسه دی ، نو که په داسی حال کښی د پښتو تصفیی او کره‌والی ته‌سمه توجه ونشی ،نو د پښتو ژبه به د شولو دهغه پټی غوندی شی چه شمخی پکښی زرغونی‌شی او د خاوند د لټی له کبله شولی وخوری . یا د ګلانو په کیاریو کښې زو زان شنه شی ، او کو کیانه‌په زوزیانه واړوی.

په ژبه او ادب، انشاء او املاء کښی هره غلطی که په خپل وخت او زمانه کښی سمه اواصلاح‌نکړی‌شی. نوغلط ،غلط ،مشهورشی. نو بیا ادیبان وائی : « غلط مشهور او لی دی د صحیح‌غیرمشهور نه»په‌دغه شان سره کېدی‌شی چه د ژ بې نه د مشهور و اغلاطو یو گودام جو ړ شی .

هو مونږ له دی خبر ی نه غافـل نه یـو چه «تغیر د کائناتو لایتغیر قانون دی.»

مگر سړی باید له دې‌هم بېخبره‌نه اوسی چه د پو شی‌پخېدل‌هم‌تغیر دی؛خو خوسا کېدل

هم تغیر دی. ولی دا د انسان وظیفه ده چه پرې نزدی چه دده په لاس کښی شیان د ې فاسد شی. بلکه زیار دې وباسی چه پاخه شی ـ رشد او تکامل ته ورسیږی. زه وپرېږم چه که په دې وخت کښی پښتو ته اساسی توجه ونشی او تصفیه نکړی شی نو پښتو به خرابه شی او خپله اصلی ا و لرغونې پخه بڼه به ژر بد له کړی. او کړې خواری به مو او به یوسی.

دپرش کاله مخکښی چه لومړی زل مونږ په پښتو لیکلو پیل کاوه، نو دا خبره لاهم مونږ ته نه وه سپینه چه «کتاب د احمد سمه محاوره ده که د احمد کتاب» او دا هم رانه وره که وه چه د پښتو څلورم حرکت ته څه وایو. چه په پای کښی موورته «زور کی» ووایه. وروسته ورو، ورو په ډېرو څېړنو، ادبی انقادونو او مجادلو په پښتو ټولنه کښی د پښتو د نظم او نثر د پاره یو داسی اسلوب او سبك پیدا شو چه که څوك رشتیا منلی شی، نود پښتو د ټولو پخوانو اسلوبو نو او سبکو نو څخه روان، محاوروی خوږ، د پښتو خپل جوړښت ته نزدې، او د علم او ادب د قالب سره برابر ؤ. دغه سبك ډېر ژر د ټولی لوئی پښتونخوا په سیمو کښی تر یوه حده عام خپور او مقبول شو. او دا کار ځکه ژر وشو چه په دغه اوله دوره کښې د پښتو د پاره خلوص او صمیمیت زیات ؤ، او اغراض لږوو. په دې وخت کښې زه له هغو زیارونو او کوښښونو څخه ستر گی پټول لویه گناه گڼم چه نیمه پیړی مخکښی په لره پښتونخوا کښی، د سیاسی مبارزو په تړخ کښی د پښتو ژبی، ادب او لیك لوست د پاره شوی وو، او د پښتو ټولنی د کار کونکو د پاره د لیاری چراغ بلل کېدل. خو که سړی لږ دقیق شی نو باور به و کړی چه د پښتو ټولنې د نهضت نه مخکښی پیدا شوی سبکونه او بیا مخصوصاً د نثر سبکونه په محلی رنگ کښی رنگین ښکارېدل او «کورنی ملی» نه وو.

د پښتو ټولنی د مترقی منثور او منظوم سبك یو لوی خصوصیت دا ؤ چه «دغه سبك چور ملی ؤ» دا خبره چه د محلی ا و ملی سبك په منځ کښی څه فرق دی، لږه تشریح غواړی او زما په عقیده دا تو پیر په دی شان دی: دا خبره اوس یقین ته بېخی نزدی شوې ده چه پښتو ژبه د اسلام د راتگ په اوائلو کښی او د اسلام نه مخکښی، تردی چه د کوشانیانو په وخت کښی او د پراکریت او سنسکریت په وختونو کښی د لیك او لوست ژبه وه. په دې باید سړی باور و کړی چه په دغو اعصارو کښې چه د «اریانا» په احاطه کښې

د کومو ژبو نومونه اخستل کېږی، دامستقلی ژبې نه وې ، بلکه اکثره دیوې لویې حاوی اوعامې پښتوژبې لهجې وې. خوځینی نابلدو خلکو ژبې ګڼلی او هماغسې دغه مصطلحات پاتې شو.ددې مثال داسی دی لکه نن چه ځینی خلك د وزیرو ، یوسفزو ، ننګرهاری او کندهاری لهجی دپاره بېل بېل ګرامرونه لیکی. دابه ومنم چه داکار دژبنیو تحقیقاتو اوڅېړنو دپاره ګټه لری، خوداهم هېرول نه دی په کار چه د غسی اقدامات دیوې ژبې نه ډېرو ژبو جوړولو، اود یو ملت نه د متعدد ملتونو د رغولو د پاره لویه لیاره هم کېدی شی .

دپښتو ټولنی دلومړنیو مؤسسانو دغه نکتی په نظر کښې وې، دوی خپله توجه پردې ټکی راوګرځوله چه دپښتوژبې دپاره کومه خاصه منطقه او خاصه قبیله یاقام په نظر کښې نیول نه دی په کاربلکه پښتون ملت او پښتنی سیمه په خاطر کښې ساتل ضروری دی . نو د ټولو لغاتو،لهجو اوسبکونومتوسط اومنځنی مشترك حدیې د«معیاری ژبې» ټاکلو اساس وګاڼه . داکارپه ډېرزحمت ، زیار، خولوتولویو،تدبر اوپه پاکه آرزو تر دې وخته رارسېدلی دی. دپښتو ټولنی په دغه مترقی سبك کښې د پښتو دټولوقومونو چه په ډېره لویه،پراخه او مشکل ګذاره غرنیء علاقه کښې، چه یوتر بله ارتباط پکښې تراوسه ساتل اسان کارنه ؤ،لغات،لهجی اومحاورې اخستل شوی دی؛ دقد ماؤ لاره هم نه ده پرنده شوې؛ اونوی لازم اصلاحات هم په ژبه، لیك او ګریمر کښې شوی دی . افسوس دی چه اصل مطلب مانه پرېږدی چه دلته زه ددغه سبك پرخصوصیاتو زیات وغږېږم نوځکه ورګرځم خپل مطلب ته،دزهیرتیاخبره ده چه د لږی مودې څخه راهیسې په دغه ښکلی ، مفید اوملی سبك کښې درزونه اوستوونه پیدا شوی او اچول شوی دی، لازمه خو داوه چه هرملی او اجتماعی ګټور نهضت باید مترقی کړی شی نه داچه سست او په شا وغورځول شی. تر کومه ځایه چه زمافکر رسایې کولی شی. ددی ګډوډیء لوی اوغټ عوامل دادی :

(۱) په پښتو کښې دهغو کسانورا ګډېدل چه پښتویې مورنیء او د تفکر ژبه نه ده .

(۲) په پښتو کښې دهغو کسانو را ګډېدل چه دنړیء دنورو مترقی ژبو دسخت تاثیر اواغیزی لاندی دی . اونه دی متوجه چه په پښتو کښې زینا ته مطالعه او کوشش وکړی . بلکه خپله ژبه ورته د نورو پردیو ژبو تابع کول ښه کار ښکاری .

(۳) د پښتو داثارو، تالیفاتو او تراجمو په یومرکزنه غونډېدل او تشتت .

(٤) تخصص ته اهمیت نه ورکول .

(٥) د پښتني سیمی پراختیا ، او دپښتو ګړندی عمومیت .

اوس نو مخکښې تردې چه کړ کېچن او بابېزه موادوښیم اودپښتوپه تصفیه لاس پورې کړم ،لازمه ده چه دتصفیې اصولی او اساسی لاره هم وښیم . نن له ښه مرغه پښتوپه یوه ډیره پراخه ساحه کښې دلیك او لوست ژبه ګرځیدلی ، اوډېرمرکزونه اونشراتی منابع لری. خوهرکله چه دافغانستان له سرحدونو څخه د باندی مرا کزو سره مونږ بې له ثقافتی تماس څخه بل قسم تعلق نه لرو ،نو ځکه هلته مولاس نه رسېږی. مګرد دې شعور په زمانه کښې چه ښه علمی اوادبی کارهرځای کښې وشی،ټول پښتانه ئی په یو وارتقاید کوی اواخلی یې، نو زه کلک یقین لرم چه که دا دتصفیې کاردلته په پښتوټولنه کښی بریالی شی ، نو بیائی بریالی وبوله او مخه به ئی ونه نیول شی.دتصفیې اساسی چاره د پښتو ټولنی خپلو در نو مسئولیتونوته متوجه کیدل ،او دپښتو ټولنه دپښتونقد،دتصفیې اوټواو ادبی لاربنوونو اومطبوعاتو یوازینی مرکز او صلاحیت دار مقام پیژندل - او کومو کسانو چه د خپلی اوږدې مودې مشق،تمرین اوتجربې له مخې دخپلو تالیفاتو او اثارو په واسطه کوم ادبی تخصص اوعلمی امتیاز ګټلی دی، هغو ته پـه هماغه شان کتل- دپښتوژبې د تصفئې او ادبی ار تقا یوازینیء چاره ده . غواړم چه دد ې مقالې اوله برخه په همدغه ځای بس کړم. او نورې خبرې بل وارته پرېږدم .

نـور بـیـا

لیکو نکی :بناغلی «ولس یار »

نوی ملی ادب څنګه منځ ته راځی ؟

زموږ دملګر و څخه یو ملګری دی چه پخپله غږ یدا ډیر سخت مین دی او دخبرو چاتهه یې هیڅکله هم نه خالی کیږی .

دې بناغلی ته ـ خدای دې یې لری ـ دا اوس مرض ګرځیدلی دی چه په هره ټولنه او مجلس کښې باید خپل یاسین تهز کړ ی او څو ساعته په هیڅ و غږ یږ ی .

ده ته دا خبره هم څه اهمیت نه لری چه په مجلس کښې څوك ناست دی او څه سره و ایی ؟

پر مو ضوع پوه دی او که یه؟ پوهیږی او که نه پو هیږی؟ بلکه ده ته فقط دا ارزښت لری چه باید لکه دتروو مچ هرې کټوې ته درولو یږی او په هر بحث کښې ځا ن شریك کړی . که رښتیا وو ایم د ی پدا خپل کسب کې سخت ماهر شوی همدی . ځکه کله که مجلس عادی وی هلته خو نو بیاده ته موضوعات نسوارهم نه دی او داله دې امله چه دی دهر مطلب دا ظهار دپاره داسې د ځان او یا کورنی کیسه د ر ته راواخلی چه نه یې سر معلوم وی او نه یې بر . د خلکو ز ړو نه خولې ته راولی مګرد ده کیسه لا نیما یی ته هم نه وی رسیدلې .

اما کله که په مجلس کښې په کومه خاصه علمی ، ادبی ، اجتما عی ... مو ضوع جدی بحث جوړشی هلته نو بیادی سمد لاسه په ډیر مهارت خبره دده پخپله اصطلاح فلسفې ته ور کش کړی اوهغه بحث ورڅخه جوړ کړی چه چر گه لو مړی پیدا شوې او که هګی ؟ د لته د ه چه ز یاتی نو ملګری افلا تون ته هم تن نه ور کوی او هر څه چه په مبار که خوله ور ځی هغه دوړوی او داستد لال په نا مه د نابلده خلکوما غزه پرې خوری .

دبدو په ساعت ، هابله ورځ دیوه ملګری دلید لو دپاره دهغه کوټې ته ور غلم .

کتل مې چه هلته بناغلی خبرلوڅی ملګری هم ددوو درو نورو ملګرو سره بر ناست دی او په اصطلاح فلسفه غږ و ی .

څنګه چه کښېنا ستم بنا غلی خبر لوڅی خپله خبره اوږده کړه او وې ویل :

«ادب بایددسړی دخپل خیال محصول وی . ځکه کله که سړی دنورو اثار لولی هلته نو بیاده ته خپل ابتکارنه پاتې کیږ ی .

له همدې امله ده چه زه دنړۍ دلیکوالو داثارو دمطالعې څخه ځان ژغورم اوپدې ډیرښه پوهیږم چه کهمې دا کار وکړ نو به هرو مرو یو مقلدیم او بس .»

بنا غلی لاخپله داد حکمت نه ړکه خبره پوره نه وه څر ګنده کړې چه یې اوزه خالی کړه ا و پخپله خاصه لهجه یې وویل :

«ملګرو تاسې ته خودا خبره ښه څر ګنده ده چه لو مړی فرد پیدا شوی دی او بیا اجتماع . ځکه .....»

بس پدې ترتیب یې دده په قول بحث فلسفی کړ ا و دومره سفسط یې وغږوله چه دخلکوسرونه یې کېدوان کړل. مګر دده لا هم زړه نه ډیخ او داصل مطلب څخه داسې تښتیده لکه په اصطلاح پیری د بسم الله څخه .

دلته و چه زما زړه زیاتی سخت تنګ شو اونژدې و چه پړك وچوی . خوپه وچ کلك زورمې هغه ملګری چه خوله یې په پاستو هم نه پټیده دخبروڅخه راوګر ځاو اوپوښتنه مې وکړه چه اصله موضوع څه ده ؟

یوه له ملګر و څخه وویل : « ا صله موضوع ادب اوپوښتنه دا ده چه موږ بایدخپل نو ی ملی ا دب څنګه خلق کړو او د نیو لیکوالو لیکنې دڅه شی څخه بایدرنګ واخلی ؟»

دده له دې تو ضیح سره مې بیا غو ښتنه وکړه چه هر څوك با ید خپله نظر یه په جلا اولنډ ډول سره و وایې .

یوه ملګر ی ددې غوښتنې په ځواب کې و و یل :

« زما نظریه داده چه موږ خپله کومه پخه اد بی عنعنه نه لرو نوله دې امله باید دنورو په تیره بیا غربی ادب ته لاس وا چوو او دلته یې له ا لف څخه نیو لې تر یا پو رې با ید تعمیم کړ و .

یا په بل عبارت موږ باید خپل ا دب ته رټ غربی رنګ ور کړو .»

بل وویل :« ز ما فکر رټ خلاف ددې دی. ځکه زه وایم چه غربی ادب هیڅکله هم زموږ دادب د بڼ په خا ور ه کې وده نه شی کو لا ی .

یا په بله ژبه زموږ دادب سره دغربی ادب په خلا کیدل نا ممکن دی او باید هیڅکله هم ددې کار دپاره کو شش ونه کړو. بلکه څومره مو چه د لاسه کیږی هومره با ید خپل ادب اولیکوال دغـربی ادب دا غیزې څخه لری وسا تو . »

بل ملګری وویل :«زه وایم چه زموږ د ننیو لیکو الو دپاره نه خپله ادبی عنعنه په کارده

او نه یې دنورو ادب په د ر دلګیز ی . بلکه ربښتینی لیکو ال هغه د ی څه خپلې همد ا اوسنی اجتماع ته پوره ځیرشی اوهغه په خپلو لیکنو کې څنګه چه ده هغسی منعکسه کړی .

ځکه ادب د ثقافت هنداره ده . »

وروسته له دې نوبت د خبر لوڅی ملګری شو .

مګرد هغه د ملا نصر الدین په ځیر هغه یوه خبره وه چه بیا یې په هسې افلاتونی لهجه تکر ار کړه او وې ویل :

«زه خووایم چه ادب باید دسړی خپل مال وی او تل پرته دنورود اثارو د مطا لعې څخه د سړ ی له خپل مغز څخه دچینې په دود را وخو ټیزی ... »

دلته د ه بیاغوښتل چه د خپلې نظر یې څخه دنیمبولااوتیمبولا کیسه جوړ کړی او داسې پرتې و وایی چه څوك یې په وچکی کې هم نه وایې . مګردخلکوخبره مړی موزورورو او په ډیرې اسانی یې ور څخه خلاص کړو ځکه دی لا پوره په ر یزنه وراغلی اودخپلو سل ډ وله تصنعی او فیلسوفانه چمو نو څخه یې څوچمه لانه وو کړی چه د کوټې دخاوند ملګری څوتنه کلیوال اشنایان کوټې ته را داخل شول اودخدای فضل ؤدښاغلی خبر لوڅی دچټیاتوپه خپته ور وختل . .

شکرونه مې وایستل اود ملګرو په اجازه اوچته پا څیدم . له مجلس څخه ووتم مګر هغه سو ا ل مې تر ا و سه لا په فکر کې ګرځیدچه په مجلس کې طرحه شوی ؤ .ځکه موضوع ډیره په زړه پورې وه اوماهم غوښتل چه څه پرې و وایم .

خـوڅر نګه چه هلته ما خپلې خبرې و نه کړی نو دادی دلته یې کوم . اما خد ای دې و کړی چه زماخبرې هم ګرانولوستونکوته د و مر ه ربړ وونـکې نه وی لکه دښاغلی خبرلوڅی خبرې چه ما ته و ی .

زه پخپله ددې پو ښتنې په برخه کې چه :

«موږ باید خپل ننني ملی ادب څنګه خلق کړو ا و دا و سنیو لیکو الو لیکنې دڅه شی څخه بـاید رنګ واخـلی ؟ »لږ څه وسعت نظرضرور بولم او وایم نه دامصلحت د ی چه دې دنوی ادب د تخلیق په نا مه ټکی په ټکی د غربی ادب تقلید اوروا جولوته ملا وتړواو نه داچه دې په عنعنوی ادب کې نو ك تر کوټیه ډوب شو . نه دا چه هر څه دی یوازې دننني اجتماع څخه واخلو او نه دا چه دې دملی ادب په نامه د نړی څخه و تښتو بـلکه زما په عیقده ډیر قوی او پوخ فکر دا ښکاری چه :

« یو لیکوال د لاندې اساساتو د مراعات په شرط کولای شی چه رښتینی ملی ادب خلق کړی:

۱ـ په ښه ژور ډول سره ژوند ته ورننوتل

۲ـ په پوره انتقادی ډول سره د خپلې ملی ادبی عنعنی مطالعه کول.

۳ـ په همدغسې انتقادی ډول د نو رو د ادب د عالی نمونو او شه کا رو نو څخه استفاده کول.»

ځکه کله که موږ خپل ثقافت ته ځیر شو نو به وګورو چه له ډیرې لرغونې زمانې نه تر اوسه پورې هیڅکله هم د نورو له اغیزې څخه نه دی خلاص.

بلکه تل د بهرنی کلچر څخه متأثر دی. مثلاً زموږ ادب ته د الفاظو نه علاوه تل د نورو افکار او طرز ور داخل شوی دی. مګر دا داسی نه ده چه ګوندې زمو نږ ادب یې پردی کړی دی بلکه بر خلاف زموږ ادب هغه په خپل ځان کښی حل کړی دی او اوس هم خبره باید همداسې وی. یعنی موږ باید خپل نوی ملی ادب درا منځ ته کولو او غنا د پاره د نورو د ادبی شهکارونو څخه داسې استفاده وکړو چه کاملا یې خپل کړو. د نورو ادب څخه استفاده باید داسی وی چه مو د ملی لیکنو خوند زیات کړی نه دا چه بی خوندی پکښی راولی.

موږ باید په خپل ادب کښی هیڅکله هغه خیالات او الفاظ ځای نه کړو چه خلکو ته د واهیاتو حکم لری او د ادب د جمود سبب کرځی.

مثلاً زموږ لیکوال باید هیڅکله هم د سمندر بېړی مدو جزر او کب نیولو څخه په عین هغه تر تیب و نه غزیږی لکه یو د سمندر په غاړه لوی شوی شاعر چه د سمندر د غاړې خلکو ګد وی.

دغه ډول لیکوال باید د خپلو خلکو ژوندته ور ننوزی ځکه دا یو وا قعت دی چه ا دب د ژوند زیږنده دی نه دا چه ژوند د ادب. د ژوند څخه بهر ادب هیڅ موجودیت نه لری او ادب ته د ټولنی او ژوند څخه بهر نی ریښی تراشل خوشې ځان ستومانه کول دی. ځکه چه: «رښتنی هنر په انفرادیت او یوازیتوب کی ابداً هم منځ ته نه شی راتلای بلکه د دې شی سرچینه د خلکو ژوند دی.»

لنډه دا چه لیکوال باید د رښتیې لیکنې د تخلیق د پاره هرو مرو ژوندته ور ننو زی. په ډیر ځیر انتقادی نظر یې مطا لعه کړی او تل دا خبره په یاد ولری چه: «ترهغو کیسو

څخه چه خپله د ژوند په واسطه خلق کیږی بنکلی کیسی هیچرې هم نشته.»

دغسې یو لیکوال باید هرو مرو خپل عنعنوی ادب کهولسی وی او که «کتابی» په پوره انتقادی نظر مطالعه کړی او هغه څه دنوی ادب د پاره ور څخه را واخلی چه نی ژوند ته د اکسیر حکم لری نه د تریاکو. اماله بده مرغه دغسې چه یو شمېر لیکوال د خپل عنعنوی ادب سره کاملا بې علاقې دی؛

یو شمیر نور په عنعنوی ادب کی دومره غرق دی چه په پای کښی و چ کلك عنعنه پسندان ور څخه جوړشوی دی. دا ډله لیکوال په عنعنه کی دومره ننوتی دی چه نه یوازی ددوی فکر او خیال زوړ دی بلکه د لیکنې ژبه یې هم هغه ژبه ده چه ویو نکی یې په پیړیو پیړیو د مخه مړه شوی او په حقیقت کې یې ژبه هم ور سره مړه شوی ده. ځکه چه اوس په ټولنه کې نه ویل کیږی، فقط یوازې خبری یې چیر ته د کاغذ پر مخ پاتې دی.

دا ډله لیکوال هر څه په عنعنوی تله تلی او هر څه په قدامت کې لټوی.

دوی نه ادب، نه ژبه(؟)، نه خیال نه اخلاق نه جهان او نه ځوانان فقط هغه بولی چه یایې په تاریخ کې نومونه لولی او یایې افسانی ور پاتې دی چه دا پخپله یو خطرناك انحراف دی. اما کله که څوك خپله عنعنه په انتقادی نظر مطالعه کوی او هغه څه ورڅخه را اخلی چه د نوی فکر او ژوند سره سم دنوی ادب په درد ولګیږی دا بیا هغه او چت کار دی چه ټولنی ته دا اکسیر حکم لری او د ادب د غنا یو لوی شرط دی.

عبدالشکور «رشاد»

ملا خیرالله هوتک

ملا خیرالله هوتك دولی محمد زوی دالهداد لمسی ؤ ـ الهداد پخپله قبیله یا عشیره کښې په «گاجو» سره شهرت درلود، (۱) اوبې مناسبته نه ښکاری چه د (گاجوی) نومی ځای سره (چه د کندهار دشاه جوی جنوب غربی پلوته پروت دیء) اړیکی ولری.

ملا خیرالله دخپل دیوان د دوهم ټوك په ۵۹ مخ کښې د خپلی نسبی سلسلې په باب داسی کښلی دی:

«زه په هوتك کښې ملکیار، په ملکیار کښې حسین زی، په حسین زی کښې صفرزی، اوپه صفرزی کښې ملیزی یم، په ملیزو کښې بیا موږ سمایل خېل، په سمایل خېل کښې سلطان خېل اوپه سلطان خېل کښې رهی خېل بلل کېږو.»

په دې سلسلة النسب کښې ذکر شوی ملکیار دپښتو هغه مشهور شاعر دیء چه په اتمه هجری پیړۍ کښې تېرشویء اودهوتك بابامشر زوی ؤ. (۲)

ملیزی دهوتکوهغه پښه ده چه په گردی ځنگله اوښه بولان کښې اوسی (۳) ملاخیرالله هم خپله مېنه «ښه بولان» ښوولی دی لکه چه وایی:

خوښ اوسه رحیمه (٤) زه نسیم یم ستاد باغ
پر «ښه بولان» می ځای دی لکه شمعه په زړه داغ

دوهم ټوك ۱۱۲ مخ

یادا:

د وحدت نا ري وهم پر «ښه بولان» یم

دهوتك په خوی خاصیت پوری حیران یم

ښه بولان د کندهارد کلات جنوبی خواته تخمیناً څلور پنځه کروه لیری پروت دیء اودسیوری له توابعو څخه ګڼل کېږی.

ملا خیرالله د مؤرله خوا د کندهار یوې ستری علمی اوروحانی کورنی ته منسوب دیء مورنی نیکه یې ملاشاهو ساگزی هوتك دی چه دغازی سترټولواك لوی احمد شاه بابا (۱۱٦۰ـ ۱۱۸٦ ه ق) له خوایې دملا ارادت خطاب موندلی ؤ اودغه علم پا لونکی پاچا

(۱) له سمایله سلطان خېل یم له سلطانه رهی خېل یم د نیکه نوم می گاجو د ي ا سم محض یې الهداد

(۲) پټه خزانه ۱۳ مخ

(۳) صولت افغانی ٤۷٤ مخ

(٤) په دې بیت کښې دپښتومشهور شاعر عبدالرحیم هوتك ته (چه دملاخیرالله دپلارتره دی) خطاب شوی دې

په ډېره درنه ستر ګه ورته کتل (۱) دې حق ویونکی عالم عارف ته تر اوسه پوری کندهاریان عقیدت لری او زیارت ته یې ورځی .

ملاخیرالله دخپل مورنی نیکه پژند ګلوی داسی ګرېده :

د «ولی» ملیزی زوی یم، که پوښتنه پسی کیږی
جدفاسدمی ملاشاهودی اسحاقزی عالیمقام
بل ځای وا یی .

په نامه دارادت سره مشهور دایې خطاب ؤ
لوی عا لم ؤ کا مل پیر د کند هار
بل ځای وایی :

له د ې پسه نو ر عازم د کند هار شو ې
د مرقد د نیکه خپل څو جو یا نی کړې
ملا شا هوچه ا را د ت د د ه خطاب ؤ

فیو ضات یې شوه ښکاره څو بیا نی کړې
ماما یې د (اسرارالسالکین) مؤلف اوناظم
ملاشیرمحمد هوتك دیء چه یولوی اودقدروړ
اثر په پښتو کښې ځنی پاته دیء دی دخپل
ماماپه باب وایی :

شیرمحمد ، عبد الرحیم زه یـې له پښته
یو ما ما ، د و هم می جد د نا ز ند یم
(لومړی ټوك)

له اسرار ا لسالکین د شیر محمده
خیرالله د خا ل صفت کړه له اطلا قه
(د وهم ټوك ۱۱۵ مخ)

د ملاخیرالله پلار ولی محمد هم یو سالك سړی تېر شویء دی ، او خپل تره پښتون ستانه عبدالرحیم هوتك ته یې ارادت درلود (۲) چه په بخارا کښې ښخ اویو ضخیم پښتو دیوان ځنی پا ته دیء (۳)

ملا خیرالله دپلارله سیوری اوروزنی څخه بې نصیبه ؤ اوپه یتیم تا به کښې زېږېدلی دی چه په اصطلاح کښې یې پس مر ګی بولی (٤) ده د خان خانان عبدالرحیم خان ښالم خپل هوتك د بغاوت او سلطنت طلبی په کا ل (۱۲۱٦ ه ق) خپل عمر د رې کاله ښؤولیء دیء اوددې حساب له مخی نودپلار (ولی محمد) دمړینی ،او زوی (ملاخیرالله) دزو کړی کال باید ۱۲۱۳ ه ق وټا کل شی .

د خیرالله د کوچینوالی ز مانه په زیاته خواری کښې تېره شوې ده اود میراث خوراوله

(۱) دسراج التواریخ دلومړی ټوك ۳۰ مخ وګوری.

(۲) خیرالله ویلی دی، «دامن کبره پلار زماد عبدالرحیم بخارا یې ؤ»

(۳) دعبدالرحیم هوتك شرح حال دپښتانه شعرا . دلومړی ټوك په ۳۲۱ مخ کښې وګورې.

(٤) خیرالله دخپل دیوان د دوهم ټوك په ۱۷۲ مخ کښې ویلی دی، «پسله مرګه څخه دپلارمی ولادت شو»

مظالمو څخه یې ډېرې اوښکې توی کړې دی .

دې مظلوم شاعر د مور په ژوند د عمر پر دو ولسم کال (۱۲۲۵ هـ ق-) د علم په طلب پسې ملاتړلی ده او د پردېسې په کړ اواخته شوی د ی - له دیوا نه څخه یې معلو مېږ ی چه ملاخیرالله د خپل وخت په ډېرو مروجو علمونو کښې لاس درلوداو په ځینو کښې د تبحر درجې ته هم رسېدلی ؤ، ده د علم تر تحصیل وروسته د ملاصاحبد ین عمرزی هوتك (رح) څخه (چه کندهار ښارته نژدی دارغند اود مرزې په کلی کښې اوسېد) روحانی استفاضه شروع کړې ده (۱) پنځه څلوېښت کلونه یې د علم اوسلوك په حاصلولو پسې په کندهار کښې تېر کړی (۲) اولـه نوموړی ملا صا حبد یـن کندهاری څخه د خلافت تر حاصلولو وروسته د ۱۲۷۰ هـ ق کال په شاوخوا کښې خپل ټاټوبی (ښه بولان) ته د استو ګی په نیت ر ا ستون شوی دی او د سیر و سلوك افاضه یې شروع کړېده (۳) .

(۱) مرشد ز ما ملا صاحبد ین کند هار ی د ی په مرز ه کښې یې مر قد عا لی مـز ا ر

(۲) پنځه څلوېښت کاله دی تېر په دا بار ګاه کړ ه ز د ه مشغو ل ظا هر با طن په د غه کا ر د ی .

(۳) د خلا فت پر مقام نا ست پر ښه بولا ن یمه ز ه ا متی د محمد بید ل نشا ن یـمـه

له یوه بیته یې څر ګندېږی چه ملاخیرالله د خپلی پنځه څلوېښت کلنی اوږدې پردیسی په ترڅ کښې د علم او عرفان د تکمیل له پاره بخاراته هم تللی دی ده ویلی دی :

نقد د عیش د بخا را په نسیه پر و لم
آ ر ز و من د کند ها ر یـم په زړه داغ

د خیرالله د د یوان د د وهم ټوك په پای کښې د میر علم خان ښا لم خپل هو تك د بغا وت او مغلوبیت ذکر سته ده ویلی دی :

د میرعلم خانی هو تك له آ به پرې یوست
ځای پر ځای بې آ به زه بې څو کړم ساماني

ځکه چه میرعلم خان هوتك (٤) او محمد اسلم خان توخی (٥) د ۱۲۸٦ هـ ق کال په سر کښې امیر شیر علی خان ته پورته شو ی او د دغه کال د څلورمی خور په پنځه ویشتمه د شلګر په «نان غونډ» او بیاد کلات په «خا که» کی مغلو ب او له د و طن څخه تېښتی ته مجبور

(٤) میرعلم خان د خان خانان عبدالرحیم خان ښالم خپل هوتك زوی ؤ په ۱۲۵۵ هـ ق کال د شاه شجاع له خوا د هوتکو حاکم وټا که شو - په ۱۲۸٦ هـ ق کال یې د خپلو د وو زامنو محمد افضل خان او عبدالله خان په ملګری بغاوت وکړ مغلو ب شو د کاکړو سیمی ته ولیږدېد (۱۸۰ مخ ګلشن امارت) .

(٥) محمد اسلم خان توخی د شهاب الدین خان لمسی ؤ د خان خانان عبدالرحیم خان په بغا وت کښې لوی لاس درلود

شوی دی نود ملاخیر الله ژو ند تر ۱۲۸٦ هـ ق کال پوری یقینی دی. تردې وروسته یې دژوند حال او د مړینی نیټه نه ده څر ګنده قبر یې دښه بولان په لویه او زړه هد یره کښې دیء

افکار و آثار

د ملا خیرالله دیوان چه غالباً دده پخپل قلم لیکل شوی دی، سر تر پایه تصوفی رنګ لری د عرفان او سلوك ډېری درنې مسألې پکښې څېړلی شوی دی، دوحدت PANTHESM لورته هم هڅه ځنی ښکاری په هغو بیتو کښې چه ددې نظریې د طرفداری صریح ذکر سته دادی:

د کامل د جبین نقش می په زړه دی
دده حال د سلیما ن زه لکه موریم
د حیرت پر محفل ناست یمه خاموشه
و حدتی نارې وهم، نه چه منصو ر یم؟

یادا:

د حیرت جلوه زما پر آیئنه ده
دوحدت نارې وهم، پر کثرت جنګ کړم

یادا:

هر و بښته می تماشا کړی له **وحدته**
لکه شمعه سر تاپا، نور د آفتاب شوم

له دې وروستي بیته معلو میږی چه شاعر د سکر او حیرت له زغو می (ګرداب) څخه د صحوی (پرسدتوب) غاړی ته را ختلی دی. په لومړی مصرع کښې له وحدة سره د تماشا ذکر د سالك د ذوق او حال بېړی د وحدت الشهود څنډی ته را نږ دې کړېده، اودشبه اتحاد هڅه ترې ښکاری.

د ملا خیرالله دیوان دوه ټو که دی، لومړی ټوك یې ۲۲۳ او دو هم یې ۱۷٤ مخونه لری چه ټول ۳۹۷ مخونه کیږی، په لومړی ټوك کښې یې څه عربی او پاړسو نظمونه هم سته او سر بېره پردې یو څه عر بی مسجع نثرونه هم ضبط دی. ددوهم ټوك په پا ی کښې یې ځینی اوزبکی لغتونه او جملې په پښتو اړول شوی دی او داسې معلو میږی چه دا د هغه اوزبکی پښتو فرهنګ یوجزء دی چه دځینو په قول ملا خیر الله لیکلی دی.

د دیوان له مطالعی یې څر ګندیږی چه دا پښتون عالم سالك او ناظم پر خپله مورنی ژ به (پښتو) سر بېره په پاړ سو، عربی، او اوزبکی هم پو هید او په دغو څلو رو سرو ژبو کښې یې د څه لیکلو قدرت په نصیبؤ

کلام

ملا خیر الله ډیر زیار ایستلی دې چه د حضرت عبدالقادر بیدل (؟- ۱۱۳۳ هق) داشعارو مطا لب پخپل پښتو نظم کښې ځای کړی

مګر افسوس چه دا کار نه دی ځینی شوی
او زیاتره یې د خپل کلام انسجام، مو زوینت
او وضاحت هم پر بایللی دی په ځینو بیتو
کښی یې د ترجمې رنګ له ورایه ښکاری لکه:

وزړه ته می ویل دشواری څه ده له عالمه
نفس لژ ند په وینو ویل پاس د آشنایی

بیدل ویلی دی:

بدل ګفتم کدامین شیوه دشوارست در عالم
نفس در خون تپیدو ګفت پاس آشنائیها

(دیوان بیدل ۱۱ مخ د کابل چاپ)

د ملا خیرالله کلام یو خوسر ترپایه عرفانی
اسرار دی او بل یی دوینا په ترکیب او ترتیب کښی
څه ضعف هم لیدل کیږی ځکه یی نو تعقید
او ابهام په کلام کښی ډیر دی سر بیره پر دی
ملا خیرالله پخپل نظم کښی زیاتره دوزن او قافیی
مراعات هم لکه څنګه چه لازم ؤ نه دی کړی
له دې امله یې په کلام کښی بیخوندی پیدا
شوې ده ده د پښتو کلام څو غوره نمونې دادی:

ترڅو به تحمل په ضعیف تن د تهمتو کړم
د پښو افتادګی لکه شبنم د تګ اسباب را
له تر که د خودی می دنیا زاو ښکی بهیږی
د ګلو پراوز ولکه شبنم سیر مهتاب را

✻ ✻ ✻

څه ممکن له یزنګی د شان نشان دی
سر تا پا حیرت نما د مرأت شان دی
سر تر پا طلسم د ناز زما غبار شو
«خیرالله» ولاړ د زلفو شان پریشان دی

✻ ✻ ✻

زه حباب شمعه د بزم د دریاب شوم
در کشاد، پرده د ستر ګو د سراب شوم
د وحدت نار یې و هم عبارت سازه
د کثرت په نام تنها در نا یاب شوم
عرصه ګاه می د وحدت له تنګه ذله
دامن ګیره د کامل لکه حباب شوم
هرو وینته می تماشه کړی له وحدته
لکه شمعه سر تا پا نور د آفتاب شوم
پر بار ګاه د مسبب تو جه بو یه
کفایت ز ما د کار ته یې اسباب را

✻ ✻ ✻

چه مجمرمی واړه تن زړه می سپند شو
مرحمت می پر فغان د اهل دل را

✻ ✻ ✻

جام د شکر او سپاس و ما انعام را
ستا د ذات سپا سدا ری ما ته مدا م را
د منعم شکر په زړه، اوج د همت دی
پر محفل د رسوایی زبان او کام را
طریقه د دلربا د ور نګی نه ده
یکرنګی، دلربایی د شکر جام را

✻ ✻ ✻

ثبات د لیل د لاری د تجریدی «خیرالله»!
له تا به څخه سپهسی درومی په ستر ګه د سوزن

✻ ✻ ✻

لکه شمعه نارسایم، له پروازه څه پرسان کړې
څو چه عمر د همای دی، په آشیان کښی پرافشان

ادبی

عبدالله «بختانی»

د کابل سیند

دایشیاد زړه له لوړولو یوغرونو ووځی
ددغولویولوړوغروله لویو زړونوووځی

چیرته چه تل ږلی او واوري بارانو نه اوری — عطرونه اوری او له هسك نه رحمتونه اوری
رڼی او به ترونولاندې یې روا نې وی تل — نفس تنګی نه وی غوټی پکښې خندانې وی تل
صاف اوسوچه پاك جنتی حوروغلمان دغلته — تل اوسیدای تل اوسیږی به افغان د غلته

پاکې او به له داسې پاکو جنتو نوو وځی
دایشیا دزړه له لویو لوړوغرونو و وځی

دادلوګر-نجراو-پنجشیراو ګلبهارپه سیمو — دادپغمان، لغمان، کونړاو ننګرهارپه سیمو
دهندوکش، سالنګ شیبرسړوسینو نه ووځی — دادسپین غراود کونډغرله سردرونه ووځی
اونی شتل اودغوربندنه ځی یوو الی سره — له اباسیندسره ګډیږ ی پښتنو الی سره

دابنه جریان د تنګیالیو له کور ونوو وځی
ددغو لوړولو یو غروله لو یوزړو نوو و ځی

دغواوبونه عاشقا نو عا رفا نو څښلی — دحق په لاره کښی غازیانوشهیدانو څښلی
ډیرقام پرستو، بشردوستوانسا نا نو څښلی — پخپل وطن باندې مینوافغا نا نو څښلی

ډك له غیرت او افتخار نه افسانې دی پکښې رنګ په ایثار او قربانۍ کښې کارنامې دی پکښې

«افغانی سیند» د میړ نتوب له سنګرونو وو ځی

دایشیا دزړه له لو ړولو یوغرو نوو وځی

د زمانې غوندې روان دی له موجو نو سره له مداوجزر له طوفان او سیلابو نو سره

یو رنګ ښکاری خو غور ځنګ یې نوی رنګ سره وی هره څپه یې په مستۍ نوی غور ځنګ سره وی

ځان یې ساتلی د «خودۍ» په نوم ډرام لو بوی که د تغیر او تحول عالی مرام لو بوی

زوړ کیفیت سره په نوو لباسو نو وو ځی

د دغو لویو لوړو غرو له لویو زړو نوو و ځی

مخکښې روان دی او ترشا بیر ته کتل نه کوی دمه یې نشته او څه فکر د منزل نه کوی

استراحت ته پیژنی- تل اضطراب لټوی په یو حالت نه پاته کیږی ،انقلاب لټوی

نوی افغان دابادۍ یوښه الهام یې ګڼی نوی پښتون دازادۍ یوښه پیغام یې ګڼی

په غوږ یې اورم دافریادئې له موجو نو ووځی

د ایشیاد زړه له لویو لوړو غرو نو و وځی

هره قطره یې مرغلره ده پښتو ن د پاره آب حیات دی په کاریږی د ژوندون د پاره

لکه دناوی چه جړاوشی شورماشور سره ځی سړې او به دی- خو تیزۍ کښې بیاداور سره ځی

که مخ په لوړه شی- میرو نه ګلستان جوړوی که مخ په ځوړه شی- نو شمع شبستان جوړوی

دزمانې بچی له هر راز ګرد شو نو وو ځی

د دغو لوړ ولویو غر وله لویو زړو نوو وځی

دانا پوهی ده که د سیند غاړه کښې تږی وی څوك افسوس افسوس که درشې په خوا کښې وږی وی څوك

افغانې سیند- په افغانی نغمو کښې دا غږول سحر ماښام یې له غفلته افغانان ویښول

افغانیت یې درونټه کښې احترام ته پا څید په سرو بی او په نغلو کښې یې سلام ته پاڅید

دبختانی ارمان په داسې نهضتو نو و و ځی

دایشیاد زړه له لوړو لویو غرو نوو و ځی

زیار

خزان

غوټۍ چه جوړوله خوله خندا ته پرّې خزا ن شو
له وینو نه ډك زړه یې له ار مانـه سـر ه یـو و ړ
د سوزو سازمجلس یې له بلبل سـر ه جـو ړ نه و
سوړ بادیې بیخ بنیا د له یو ه آ نه سر ه یو و ړ
له ښاخه شوه جلا او لانـدې پـر ېو ته په ځمکه
امیدیې تـورو خاورو تـــه له ځانـه سر ه یو وړ

نه ګل شو نه بلبل شو نه د مینې ترانې شوې
نه چنګ او چغانی شوې نه دمینې ګرانی شوی

نظر کا ویرد مینې ،مینه غـم ګـا لی دحـسن
فضا په مر ګ اغوستی دی دچا تـورې څـا در ې
او ښتی کنډولو نـه خم خانې هم تشې ښـکـاری
نه رنګ دسرو شرا بـو لـری شونډې د دلبرې
سیلۍ دنامیـندۍ دی له هر خـواځیـنې رادرومی
باران غـــوندې وریږی ځکه او ښکې لولنګر ې

تمثیـلـه ډرامه ده چه عنوان یې دی خزان تش
فقط په کښې لیده شی هغه باداودا باران تش

داغرونه غرونه وریځی چه لګیږی یـو لـه بله
له ځوږ یې نا کراردی نورعـالم پـه منځ د ځمکې
یوشوردی انقلاب دی وروی سخت تنـد رو نـه
ارواح د غـر یبانـو لو بـوی لـکه نا نځکې

نه فیض او نه رحمت شته دهغو په خـــطرو کښې
له زړو نه یې جذبې دپاکې مینې شو لې ورکې
کړې هیسته یې خاونده! دغه لړې چه غو ر یږ ی
نه رو ژغورې په فضل دغه زړ و نه چه تور یږ ی
چه خپل کورنه یې کورنه کړی زامن، مېندی، پلرو نه
کینه اهمنځه لاړه شی دوستی شی او هم ا حسا ن
یوبل ته سره کښې ننی دسرو و ینو خو را ك ته
بل جوړ کړی ډك دمینې، محبت ښکلی جهـا ن
توی نه کاندی ګلونه، نورخـزان د انسا نا نـو
تیری، ظلم وزورنه وی، په مظلومو، له ا نسـا ن
چه محوه له دنیا ځنـی، ای زیاز ه! د اغبار شی
نوهله به دامنی بیا د مینې یوبـــهار شـــی

غلام محی الدین « زرمل وال »

سفر ځان کښې

ای انسان لږ څه ځیر شه
خپل ذهنی قدرت تصویر شه
مه کا لبد خپل کښې اسیر شه
ستا خورین پیکر کښې پټ پروت ستر قدرت لویه معنی ده
بصیرت لوړه بنا ده

✲ ✲ ✲

سفر وکړه په خپل ځان کښې
ځیر شه ځان په پلن جهان کښې
خلاقی قدرت انسان کښې
لوړ له خیال له تصوره انسان ځیر ی ماوراده
هم سپوږمی هم په زهراده

✲ ✲ ✲

که ته وه پیژنی ځان خپل
یې څرګند لمر د آسمان خپل
کړی به ژر روښان جهان خپل
ستا خورین پیکر بیا کله ستا حجاب او ستا معنی ده
ستا نه ور که ستا د نیا ده

✲ ✲ ✲

یا الهام واخله له ځانه
یا له خپل مثل انسانه
نوی ژوندله پلن جهانه
تیاره ژوند پرده بیاځیری نوی ژوند بیا روڼ سباده
په زړه تګ مرګ معنی ده

✲ ✲ ✲

مه نا زیږ ه چه لیسا نس یم
وا یه مه ستو ن له فرانس یم
پو ه تا ریخ په رنه سانس یم
بر ی لیك د پلو م یو ازی نه ستا فخر ستا معنی د ه
نیک احساسی ستا لو دنیا د ه

✲ ✲ ✲

که مد رك پو ه منو ر یی
که ډ بر لو ستی ټو ل هز یی
پټ پیکر کښې بی ا ثر یی
خپل پیکر حصا ر د ی مات کړه نن تعقل نو ی د نیا د ه
هم د مر ګ ا و ژ و ند سو د ا د ه
لر ی لر ی لا ری ځاو ر
پر د ی موږ له خپلو چا رو
خپل او بل ته مهمل ښکا رو
ټو ل د ژ و ند ا نه ر ا ز له ځا ن لر ی چا سلا د ه
و یښ شه تا کښې ستا معنی د ه

✲ ✲ ✲

ز و ړ جها ن ز ړ ه فضا
ز و ړ ژ و ند و ن ز ړه سو د ا
ز و ړ د ما غ ز ړ ه و ینا
د تا ر یخ په جبر ی سیر و ر ا نه نن ا و یا سبا د ه
ژ و ند ا نه فلسفه د ا د ه

✲ ✲ ✲

یو اجتماعی بحث قدرت الله «حداد» منفی ټینګار

دغاړه نه اېښودلو فلسفه
او
د اجتماعی ناموس ساتنه

عدم اطاعت یو مطلق او تل تر تله تمردنه دی ځینی وګړی داسی ګومان کوی چه د اجتماعی ناموس د ساتنی له پاره باید تل موضوعه قوانیی تر پښو لاندی شی، که چیری داسی وشی، نو هغه موږ د پټو ستر ګو پیروی بولو. ځینی نور نه پوهیږی چه عدم اطاعت یعنی څه؟ د دوی له پاره به په دغې مقالی کښې دغې فلسفی باندی لږ شانته وغږیږو. یو شمیر خلك له لیری هغې ته ګوته نیسی او غندی یې، د هغوی له پاره دا توضیح کفایت کوی چه محیطی شرایط دوګړو د کړو وړو ټاکونکی دی.

په هغو کښې (تر ۱۹۴۷ پوری چه دا نګلیسانو لاس لاندی ؤ) د ګاندی (۱۸۶۹-۱۹۴۸) فلسفه د دغې لویې وچی اساسی فلسفه وه.

اوس (وروسته تر ۱۹۴۸) چه د هند له خاوری پاکستان بیل شو، یو نوې هیواد چه تاریخی اساسات یې د پښتنو پر فداکاریو ولاړ دی، او استعماری تاکتیك هغه سر چپه درولی دی مینځ ته راغی، دلته د مبارزی تاکتیك لا کوم بدلون نه غواړی. او همدا وجه ده چه موږ اورو د عدم اطاعت په سلسله کښې دومره پښتانه مشران حکومتی مقاماتو ته تسلیم شول.

هغوی د اجتماعی ناموس داډل ساتنه کوی چه پر خپل ځان کړ او او زحمت منی خو د ټولنې له پاره غیر معقول احکام نه عملی کوی؟ او دا ښکاره دلیل دی چه ولس په ګټه او تاوان پوهیږی او نه غواړی چه نامعقول نظامونه دوام و مومی چه دا هم په خپل واریو انقلابی حرکت دی.

دادی زه په دې مقالی کښی د ګاندی له یوی مقالی څخه HINDSAIOARAI کتاب کښې خپره شوې استفاده کوم او پر دغی فلسفې لږ شانته غږیږم، ګاندی خپلو خبرو باندی د مینی د قوت له تشریح څخه پیل کوی او بیا منفی ټینګار چه غاړه نه اېښودل یې یو ټوك دی بیانوی.

د مینی طاقت د حقیقت طاقت غوندی دی، هر چیری چه لاړ شود هغه فعالیت لیدلای شو که دغه طاقت له مینځه ولاړ شی، نوره به دا نړی هم نه وی مګر دا چه څوك تاریخی دلیل وغواړی

بایدووایم په کاردی چه لومړی ځر کند شی تاریخ یعنی څه؟ دتاریخ مترادف کجراتی کلمه داده: داسی پیښ شوه! که دتاریخ معنی همدغه وی، نو ډیر شواهد لرو چه زموږ مدعا ثابته کړی او که چیری دتاریخ معنی دامپراطورانو او پاچاهانو فعالیتونه وی نو هیڅ شاهد په تاریخ کښې دمینی دقدرت په برخه کښې نه لرو.

دا انتظار بې ځایه دی چه د قلعیو په کان کښې دې سپین زر پیداشی. څرنګه چه تاریخ پیژندل شوی هغه دادی چه څومره جګړی شوی، اوله همدی امله انګریزی متل دی چه وایی: هغه ولس چه تاریخ نه لری «معنی دا چه جګړو سره مخامخ شوی نه دی» نیک مرغه دی.

په تاریخ کښې او زدی قصی شته چه پادشاها نو څه اوڅه کړی دی؟ څنګه یوله بله سره غلیمان شول؟ او څنګه یو پر بل بریالی شول؟ حال دا چه که چیری نوری خبری پر ته له دغو خبرو په نړی کښې نه وای نړی به اوس بر باده شوی وای.

که چیری د نړی داستان له جګړی څخه شروع شوی وای نن به هیڅ ژوی نه مینده کیده. هغه ولسونه چه جنګیدلی دی له مینځه وتلی (لکه داسترالیا بومیان چه دمها جمینوله خوا وژل شوی) «څوك چه توره باسی په توره به مړ شی» یو بل متل لرو: څوك چه کوهی کینی په کوهی کښې لویږی.

نن چه په نړی کښې دومره خلك ژوند کوی خپله ددې دلیل دی چه نړی دمینې او روح په قوت آباده نه دا سلحی په زور. ددې خبری له پاره لوی شاهد دادی چه سره له دې چه ډیرې جګړی شوی بیا هم نړی کښې وګړی شته دملیاردوو ګړو ژوندد دغه قوت دیوې ذری فعالیت له امله دی.

د ملیونو وړو کو. نیو شخړی ددغه قوت د فعالیت له اثره ور کیږی او ولسونه په سوله او صفا کښې ژوند کوی، په تاریخ کښې دغه حقیقت نشته؛ په تاریخ کښې د روح او مینی دقوت پر له پسی پر یکیدل او له مینځه وتل بیان شوی دی.

دوه ورونه سړی وینی چه یوله بله سره د عوا کوی، یو له دغو ورونو هغه مینه چه دبل په زړه کښې ویده پاتی ده ویښوی په نتیجه کښې شخړه ور که شی او سره پخلا شی. هیڅوك دې خبرې ته نه متوجه کیږی او که چیری د غه دوه ورونه محکمی ته ولاړ شی او یا وسله واخلی سمد لا سه د هغوی اقدامات په مطبوعاتو کښې منعکس کیږی. ټول ور باندی خبر یږی او بنایې چه په تاریخ کښې ولیکل شی.

کومه خبره چه د کورنیو په برخه کښې رښتیاده همغه خبره دملتونو په برخه کښې هم صادقه ده، پر کورنیو او ولسونو یو قانون حکم لری.

منفی ټینګار د تګ یوه داسی لاره ده چه د شخصی رنځ زغملو په وسیله د حق د احقاق له پاره تا کل کیږی، د داسی یو کار دی چه د وسلی له مقاومت سره مخالفت لری. کله چه زه داسی یو کار چه هغه زماله وجدان سره منافات لری نه کوم ما د روح له قدرت څخه استفاده کړی ده، کله چه که حکومت یو قانون پاس کړی (چه زما په برخه کښې وی) او هغه قانون زمانه خوښیږی، که چیری حکومت دهغه قانون لغو کولو ته اړ کړم ماد جسم له طاقت څخه استفاده کړی ده، او که هغه قانون ونه منم او دهغه د نقضولو له امله مجازات شم او رنځ وز غمم دلته ما د روح له قدرت څخه استفاده کړی ده، د دې کار د سر ته رسولو له پاره له ځانه تېر یدل په کار دی. ټول به د دې خبرې تصدیق و کړی چه د نورو له وژلو څخه له ځانه تېر یدل ښه دی. سر بېره پر دی که چیری دغه قوت په یوه غیر منصفانه کار کښې صرف شی، یوازی به هماغه سړی په رنځ اخته شی او نور خلك به د ده د غلطیو په اثر نه ځپل کیږی.

که چیری قوانین سم نه وی نو قانون جوړوونکی له مینځه نه ایسته کوو بلکه شخصی رنځ زغمو، او د ناسمو قوانینو اطاعت نه کوو، دا چه د ټولو قوانینو اطاعت و کړو که ښه وی که بد، دا یوه نوی عقیده ده چه بې معنی هم ده ځکه پخوا داسی یو شی نه دی لیدل شوی.

پخوانیو خلکو نا سمه قوانین نه عملی کول او د قانون د نقضولو له امله مجازات ګیدل نو هغه مجازات به یې زغمل. له میړانې سره نه جوړیږی چه له هغو قوانینو څخه اطاعت و کړو چه زموږ له وجدان سره منافات لری. داسی تعالیم له دین څخه مخالف دی او د پټو ستر ګو اطاعت کول دی.

که دولت امرو کړی چه لخ لغړ شئی آیا دا امرو منو؟

که زه له منفی ټینګار څخه استفاده و کړم نو باید دولت ته ځواب ور کړم چه زه دغه قانون سره کوم کار نلرم. مګر موږ څخه داسی ځان هیر شوی او دومره مریان شوی یو چه هر ډول قانون منو، هغه میړه چه له خدایه ډاریږی له هیچا به و نه ډارشی، میړه ته تر دی بل الزام نشته دولت. نه وایی چه داسی و کړه، دولت وایی که داسی دې ونه کړه جزاء به در کړ شی؛ موږ له دومره فساد او انحطاط سره مخا مخ شوی یو چه اوس زموږ دین موږ ته تکلیف کوی چه د دغو غیر عادلانه قوانینو اطاعت و نه کړو میړانه هم دا نه منی؛ هیڅ دیکتاتور نه شی کولای د منفی ټینګار خاوند د ځان مریی کړی.

دادی د مالی حکومت کلی تر هغی ور ځی چه خلك د غیر عادلانه قوانینو اطاعت کوی تل به ترهغی ورځی پوری مریبتوب پاتی وی، یوازی د منفی ټینګار خاوند ان دغه او هام لیری کولای شی.

حیوانی قوت او باروت له منفی ټینګار سره نه جوړیږی که استفاده له دغو طاقتو څخه روا وی نو هغه بل به هم حق لری چه دغسی کار وکړی په نتیجه کښی به ز موږ او د دښمن تر مینځ روغه نه راځی.

ځینی وګړی منفی ټینګار د ناتوانانو له پاره یوه ښه وسیله بولی او وایی: کله چه دوی زور ورشول نووسله به پیدا کړی. دا څه خبره ده؟ دا جهالت دی منفی ټینګار دروح له طاقت سره یوه بې ساری اسلحه ده، دروح قوت تر اسلحی خورا پیاوړی دی نو څنګه هغه د ضعیفانو وسله بولیء؟ افرا طیون د حیوانی زور طرفداران دی. تو ولی د هغوی ذکر دقوانینو له اطاعت سره کویء؟ زه هغوی مقصر نه شمیرم ځکه هغوی هم غواړی چه انګلیسان له هندوستان څخه وباسی، تاسی څه عقیده لریء هغه سړی زړور تیا لری چه نور په توپ الوزوی؟ او که هغه بل چه په خندا د توپ خولې ته ورځی؟ کوم یو سلحشوری لری؟ هغه چه مرګ په خلاص تندی منی، یا هغه چه د نورو مرګ کنترول لوی؟ یقین وکړیء څوك چه زړه ور نه وی هغه منفی ټینګار نه شي منلای او که زړه ور وی او جسماً ډیر ناتوانه وی هغه سړی به هم د منفی ټینګار په وسیله خپلواکی ته ډېره مرسته وکړی.

ځینی دوستان وایی د منفی ټینګار خاوندان د تن روزنی ته پاملرنه نه کوی، زه وایم څوك چه د تن روزنې ته پاملرنه ونه کړی هغه منفی ټینګار نه شی کولای، قاعدتاً هغه ماغزه نه لری، موږ باید له عیاشی څخه ځان وساتو، په وړو کتوب کښی واده ونه کړو، خپل جسمی طاقت وساتو او زیات ئې کړو، زه وایم چه د منفی ټینګار له پاره دروح قوت هم کفایت کوی.

منفی ټینګار هم ګران دی او هم آسان. ماخوارلس کلن سړی ولیدچه په منفی ټینګار یې لاس پورې کړ، ما نارو غ لیدلی چه د منفی ټینګار خاوند ؤ او له بلی خوا زورور خلك پیژنم چه وایی: «موږ عفوغواړو د منفی ټینګار شجاعت او قدرت نه لرو» وروسته له ډېری تجربی وپوهیدم چه که څوك غواړی خپل هیواد ته خدمت وکړی باید د عفت ګوهر ځان سره وساتی فقر او مرګ سره دی ملګری شی او دحقیقت پسی دی شی.

دچینی منابعو څخه

دبنایست یعنی څه؟

دظاهر «افق» ترجمه

د چین په ادبیاتو کښې دبنایست یا استیتیك(۱) موضوع یوه خوراتوده موضوع ده چه نن ورځ کله ارټ ګوتې په وهی او کله یې بیا فلسفه پخپلو ګوتو کښې سره شنی .

دچین ډیرو فلسفی مکتبو، دارټ او ادبیاتو مد رسو پر نوموړې موضوع باندې خوراډیرې خبرې اومناقشې کړیدی. چه د ۱۹۵٦ کال مناقشه یې د ویلو وړ ده .

په دغه کال کښې چه متعلمینو او معلمینو پر نوموړی موضوع باندې دلایل وویل نوډیرو متعلمینو خپل نظریات دبنایست په باره کښې واړول بعضویې دخپل ژور غور په نتیجه کښې وخپلو نظریاتو ته انکشاف ورکړ خوځینو یې کوښښ کړیدی چه خپل نظریات پر علمی اساساتو باندې برابر کړی . دادی په لاندې ډول دهغې مناقشې اوسوالوخلاصه راوړو چه په (۱۹۵٦) کال کښې خبرې پرشویدی .

بنایست څه شی دی ؟

که څه هم دغه سوال یو خورا پخوانی سوال دی اما څنګه چه په استیتیك کښې زیات اهمیت لری نوډیر څیړل شویدی .

یومکتب وایې: چه بنایست یوعندی (۱) خیالی اوشخصی شی دی . ځکه دافقط یوخیال دی چه دانسان په دماغ کښې پیداشی او کوم خارجی واقعیت نه لری، یعنی که څه هم وایو چه پلانکی شی بنایسته دی او پلانکی بدرنګه دی خو تنهایه انسان پورې اړه لری . او کوم حقیقت نه لری. ددې مکتب طرفدار «لو-ینګ» دی .

(لو-ینګ) وایې ډیرشیان دی چه د یوه سړی دپاره بنایسته ایسی امادبل سړی بیاامکان لری هغه بدرنګه وایسی، یاهغه ملت چه دیوه شی په باره کښې دبنایست مفهوم لری بل ملت بیاو هغه شی ته په هغه سترګه نه ګوری حتی داسی هم پیښیږی چه یوسړی دخپل ژوندپه یوه دوره کښې یوه شی ته بنایسته وایی اماپه بله دوره کښې یې بیا فکر تغیر خوړلی وی او بل شی ته بنایسته وایی. دپورته خبرو په نتیجه کښې (لوینګ) وایې چه بنا یست په طبیعت کښې کوم واقعیت نلری تنها دیوه شی انعکاس دی چه دانسان په ذهن کښې تولیدیږی لکه خیال. دغه دبنایست مفکوره یوه اجتماعی مفکوره هم ده او

(۱) دبنایست خوند اوارټ دقوانینو ارتباط ته وایی

(1)Subiective

په اجتماع پورې تړینګه اړه لری یعنی څه چه تولنه هغه بنایسته بولی نو دفرد پاره هم بدرنګه نه ایسی. یوه ډله خلك شته چه دلوړ مکتب سره مخالفت لری او وایی: که چیرې بنایست یو اځی دانسان خیال وی او کوم واقعیت و نه لری نو دلته د بنایست او بد رنګی صحیح او غلط مفهومونه تول سره ګډوډ کیږی.

یو بل مکتب چه داولنی مکتب سره بلکل فرق لری د (تسی - یې) په نمایندګی به خبرې پروکړو (تسی - یې) چه په ادبیاتو کښې دپوره اقتدار خاوند دی وایې: هغه وخت چه شی په خارج کښې وجود لری او په خیال پورې اړه ونلری نو یې بنایست هم په خارج کښې خامخا شته او د سړی په خیال او تصور پورې کومه اړه نلری.

دی زیاتوی چه بنایست په طبیعت کښې موجود دی او په انسان پورې کومه اړه نلری مثلا شګوفه په خپله په طبیعت کښې شته نو یې بنایست هم هغسې یو واقعیت لری چه دانسان په تصور پورې اړه نلری یعنې دانشو ویلای چه دشګوفی بنایست دې تنها په انسان اوده په فکر پورې اړه ولری بلکه دشګوفې دهستی سره یې بنایست هم هستی لری.

بنایست یو خارجی وجود لری (۱) نه یو نفسی او خیالی (۲)

(تسی - یې) لاداهم وایې چه بنایست یو مشخص او معین شی دی یعنې بنایست اساساً دیوه مشخص شی دڅرنګه والی تشریح ده.

دده پر دې خبرو باندې هم ډیر خلك اعتراضونه لری او وایې:

چه که چیرې بنایست خارجی وجود لری نو لاندې دوې خبرې به پیښې شی.

اوله خبره دا ده چه که بنایست واقعیت ولری نو معلومداره دغه بنایست دانسان تر ظهور لاد مخه موجود و او دانسانی جامعې په مناسباتو کومه اړه نلری.

بله خبره داده چه په دغه وخت کښې دمنطقې تضاد دقانون رابطه نه شی ساتله کیدای، یعنی کومې اړیکې چه ماده او معنی یې د بنایست دمفهوم د تامین دپاره لری هغه د منځه څخه ځی. همد اسی که چیرې بنایست په خارج کښې یو معین او مشخص وجود لری نو باید دهغه معین شی واقعی نقش دانسان په ذهن کښې په هغه ابتدایې شکل لکه چه دی واقع شی.

په دې مناقشه کښې (تسی - یې) خپلو خبرو ته دوام ورکوی او وایی:

(1)OBJECTIVE (2)SUBJECTIVE

چـــه کـــه څـــوك ووايي چـــه د بنايست مفکوره د خارجي واقعي بنابسته څخه فرق لري يعني کوم واقعيت نلري نو دلته که څوك يوواقعي بنايست ووينی هغه به هرومرو دهغه سړی په تجربه اوخيالي وضعيت پورې اړه ولري .

اوپه دغه وخت کښې به بنايست يواجتماعي کر کټروی او بس . اما کيفيت داسي نه دی .

علاوه پردوولويو مکتبو چه پورته وويل شويوبل مکتب چه خو رانوی او مهم مکتب يا د يزی عبارت دی د موجوديت (۱) او نفسيت (۲) ترکيب اواتصا له څخه .

دغه نوي تيوری دفروفيسر (چو- چنگ- چين) له خوا پيشنهاد شويده که څه هم دی په دې باره کښې ډيره مطالعه او تتبع لری خوډير ژريي دغه تيوری ورترديد کړی او دايي ورته ويلی دی چه بنايست تنها او تنها يوه نفسي او ذهني حادثه ده .

(چو-چنگ- چين) خپله نوی نظريـه داسي بيانوی دبنايست داحساس وجود پخپله شـــی اويـــا دهـغـه شـــی وجـــود نـــدی بلکه دهغه شی يو انعکاس دی چه دانسان په ذهن کښې توليديږی چه دغه انعکاس دانسان پخپل داخلي او نفسي تاثيراتو پورې اړه لری چه تقريباً وروسته دعلم يوشکل ځينی جوړيږی.

ديوه شي تصور چه پيدا کيږی ګواکی دهغی سړی د داخلي فعاليت نتيجه ده چه دا فعاليت د خارجي اومادی جهانه سره مستقيمه اړه لری. نوبنايست هم دغسي يوواقعيت دی. چـــه هـم په مادی جهان پورې اړه لری اوهم په داخلي نفسي حرکاتو پورې، يعني دنفسي اوخارجي جهان د ترکيبه څخه بنايست ميدان ته راځی . د مادې ياشي فکر يو صنعتي فکر دی او بنايست بيا دصنعت يو صنعت دی چه ګواکی دغه نوديوه صنعتي فکر پيژاندنه ده.

ديوه حقيقي استيتيك فکر له مخې بنايست هغه دی چه يوصنعتي اوارتيستيك کار پای ته ورسيږی په مادی او طبعي جهان کښې داسي بنايست نشته چه هغه دې يواځې او مستقل بنايست ميدان ته راوړی فروفيسر چوددې خبروداثبات لپاره شگوفه مثال راوړی اووايي :

شگوفه پخپله يواځې اوپه آزاد ډول سره په طبيعت کښې کوم بنايست نلری اما څه وخت چه دغې شگوفې فکرد انسان نفسي حالاتوسره يوځای اومرکب مفهوم پيدا کړی بيانو بنايست ځانته يوه معنی پيدا کوی .

(1)OBJECTIVITY (2)SBJECTIVITY

فروفیسر چود (تسی-یې) پرخبرو انتقاد نیسی ځکه هغه وا یی چه بنایست په طبیعت کښې یو آزاد واقعیت دی نو چوورته وایی که داسې وی نودشگوفې یو نقش هم هغسې یو بنایست تولیدوی په داسې حال کښې چه شگوفه خپله په طبیعت کښې یوډول اهمیت لری او نقاشی یې په بل ډول قدر لری .اوس به نو داو وایو چه بنایست په آزاد ډول په طبیعت کښې نه پیدا کیږی بلکه دانسان دذهن اوطبیعت دارتباط اواتصاله څخه پیدا کیږی .

دی وایی :چه طبیعت په خپله کوم بنایست نلری بلکه یو مخصوص حالت دبنایست دپاره لری یعنی کوم وخت چه دانسان فکراو ذهن ور سره جمع کړ ونو کولای شو چه بنایست ځنې راوبا سو . پس طبیعی بنایست عبارت دمادی جهان اومعنوی دنیادتر کیب اواتصاله څخه دی .دمثال په توگه سوررنگ لکه یوه محرکه قوه د انسان دپاره یوډول احساس پیدا کوی(په فیزیولوجی کښې یې راوړی دی) که څه هم سړی پوهیږی چه دغه سوررنگ سړی پریو قسم جدیت او حیجان را ولی اما څه وخت چه دغه یوذهنی احساس په انسان کښې پیداشو ګواکې دغه احساس په خپله دا ستیتیك په موضوع گانو پورې اړه لری .

نوهغه څه چه موزیې طبیعی بنایست بولو دارتهستیك دبنایست دقسمه څخه ده . په داسې حال کښې چه د غه صنعتی یاارتهیستیکی بنایست بیادانسان دتدریجی تکامل اوروز مره تغییر نتیجه اوپه هره ګړی کښې تغیر خوری یعنې دغه تغیر بیادارت په ساحه کښې یوه نسبتی خبره ده چه دانسان په ایډ یالوجی او یا ا جتماعی ساختمان پورې اړه لری نو گواکی بنایست یاپه خیالو یااجتماعی ساختمان پورې اړه لری چه خارجی واقعیت له د ې ډول خبرو څخه خلاص دی او بې له کومه خیاله اوفکره څخه واقعیت دی او بس .

که چیرې دیوه شی مثلا دګل سوروالی دفزیك او فیزیو لوجی قوانینو د مخی څخه تجزیه کړ والبته کولای شوامـا داخبره نو پر علمی اساس باندې نشې برابره کیدای چه د غه رنگ دې دیوه وا قعی بنایست پـه څیر قبول کړو بلکه یو نسبتی شی اوپه شخصی ذ هن پورې اړه لر ی .

چه په پای کښې به ووایو چه بنایست یو نسبتی ا مردی او د هرسړی په ایډ یالوجی پو رې اړه لری.او تنها په مادی جهان پورې اړه نلری. یعنی دهرسړی په تاریخی او اجتماعی اړتیاو پو رې مستقیمه اړه لر ی .

د فروفیسر (چو-چنګ- چی) پرخبرو باندی هم خلك اعتراضونه لری ځکه دمخه موولیدل چه فروفیسرچو بنایست یوخارجی موجودیت نه بولی اوداید یالوجی دنیاارتباط دخارجی دنیا سره ګڼی چه د غه مفهوم په خپل ځان کښې دا معنی لری چه بنایست یو شخصی مفهوم دی، په شخص او دهغه ارتباط په اجتماع پورې اړه لری .

دغه خلك وایې چه که چیرې بنایست کوم واقعیت ونلری نوبه حتماً د واقعی ارتې او واقعیت ترمینځ ارتباط قطع شی یعنی دغه خبره چه ارتې دحقیقت یاواقعیت انعکاس دی بلکل غلط شی .

څلورم مکتب چه د بنایست په باره کښې خبرې کوی هغه د (لی-تسی-هو) (چه دچین دپوهنتون فلسفې په څانګه کښې یوه پوره مطالعه لری) له خواڅخه خبری اترې پر کیږی.

(لی-تسی-هو) وایی چه بنایست هم په خارجی واقعیت پورې اړه لری اوهم په اجتماعی ارتباط او کر کټر پورې تړلی دی .

بنا یست یو خارجی موجودیت دی اما دغه موجودیت په فیزیکی اوطبیعی واقعیت پو رې اړه نلری . بلکه په اجتماعی واقعیت پورې تینګه اړه لری چه په دې حساب سره چه که اجتماع وی نود بنایست مفهوم به هم وی او که چیرې انسانی جامعه نه وه هلته به نود بنایست مفهوم نه وی چه ګواکې بنایست هم په خارجی واقعیت اوهم اجتماعی کر کټر پورې اړه لری .

اوس نوعلاوه پردې چه بنایست په انسانی جامعه کښی یوواقعیت دی بلکه د جامعې په انکشاف پورې هم مستقیمه اړه لری یعنې داجتماعی کر کټره سره بنا یست هم پو ره تړلی دی یعنی بنایست دیوې خوایو خا رجی واقعیت شواودبلې خوادانسانی ټولنې په کر کټر پورې سیخه رابطه لری .

طبعی بنا یست په څه اړه لری اوڅه شی څخه نشئت کو ی ؟

ددې سوال په باره کښی (لی- تسی-هو) داسې خبرې کوی چه نه د (تسی - یې) طرفدار دی اونه د (چو) خبر ې منی ځکه چه د ی وایی :

طبعی بنایست په طبیعت کښی کوم واقعیت نلری لکه (تسی-یې) چه وایې اونه په شخصی ایډیا پورې اړه لری لکه (چو-چنګ-چین) چه وایی :

بلکه طبعی بنایست لکه یوه اجتماعی حادثه اومفکوره چه دیوې واقعی اجتماع په کریکټر

پورې اړه لری په هغه ډول سره دیوې انسانی ټولنی په واقعیت سره واقعیت دی .

دی وایې: .یو طبیعی شی هغه وخت بنایسته کیدای شی چه په انسانی جامعه او انسانیت کښی داخل شی بنایست د طبیعی حادثو په شان لکه رود غر ـ او نور واقعیت نلری طبیعت په خپل ځان کښی بنایست نلری اما هغه وخت چه دغه شیان د انسانی ټولنی تر تاثیر لاندې راشی بیا نو بنایست ځینی پیدا کیږی .چه په طبیعت کښی د بنایست سرچشمه دغه اجتماعی تاثیرات دی د (لی تسی . هو) د مکتب ډیر خلك طر فدا ر ی کوی اما ځینې یې داوایې چه (لی) په خپلو نظریو او بیانو کښی طبیعی کریکټر ته چندانې اهمیت نه دی ور کړی پداسې حال کښی چه د دغه طبیعی کر یکټر و تاثیرات په انسا نی جامعه کښی زیات اهمیت لری .

دوی د استیتیك د تعریف د پاره د شی اجتماعی او طبیعی کریکټر دواړه لازم بو لی .

(چینګ ـ کینګ) د چین د مر کزی اوپیرا (OPERA) د انستیتوت معاون هم په خپل نوبت پر نوموړی موضوع باندې خبری کړی او په خاص ډول یې پر طبیعی بنا یست باندې نوشتې هم کړیدی .

دی وایې : په هر هغه ځای کښی چه انسانی جامعه ته وی او خپل مخصوص کلچر یې نه وی بنا کړی هورې نو طبیعی بنا یست هم نه لیدل کیږی .

دایوا ځې په انسانی ټولنه کښی رو ا ج دی چه په طبیعت کښی بنایست وینی یا بد رنګه نکتی یې په نظر ورغلی وی . دا خبره ممکنه ده چه انسان دې په طبیعت کښی بنایست ووینی اما دا سوال پیدا کیږی چه انسان څنګه د طبیعت سره ګرانښت پیدا کوی؟

دیوې خوا انسانانو په خپل قوت او بازو سره دځمکې ډیر ډیر ځایونه سره اړه و لی ا ود کرهنې دلارې څخه یې بنایسته کړی دی د بلی خوا څخه ډیرو خلکو په خپلو زمانو کښی مختلفی نوشتې او شعرونه ویلی او ډیرې کارنامې چه د آرټ له مخې هم اهمیت لری پرې ایښی دی.

دغه نوشتې، شعرونه، ناولونه او کیسی طبیعی منظرې تر دغه لاخو ندورې کوی یعنې دا نسان په فکر او تخیل سره سپیره غرونه، شنې او به او پراخ دښتونه ډیر بنایسته او مزه داره کیږی .

لنډه دا چه (چنګ ـ کینك)وایې طبیعی بنایست داسې شی نه دی چه بیله انسانی ټولنی څخه دی په ازاد ډول سره موجود وی. نو دی زیاتوی چه د یوې مشخصې اجتماع عمو می کریکټر دهغې اجتماع د مادی شرایطو له مخی څیړل کیږ ی .

واسعی

د زړه لوګی

په پورته نامه یوو وړ مګر مغزن کتاب زما لاس ته راغلی دی چه دا اوس غواړم څه پرې ولیکم یا په اصطلاح نقداو تعریف (پیژندنه) یې و کړم.

ددې کتاب نوم (د زړه لوګی) د ی اود دیوان په نامه یادشویدی یعنی د اشعارو مجموعه بللې شویده. د دیوان څښتن ښاغلی محمدالدین مقید د پیښور د کوهاټ د ټل اوسید و نکی دی دیوان په یوه ښکلی ا و موزونه قطع په (۱٤٤) مخو کښی طبع شوی او پردوو برخو چه (غزلی-نظمونه) دی ویشل شویدی، خو غزلی یې پر ردیف سمی نه دی راغلی او ددې ترتیب لحاظ یې نه دی کړی. د نظمو نو په برخه کښی هم تر مختلفو عنوانو لاندی د روژې د ماښام څخه بیاد عید الفطر غریب ته خطاب امیر او فقیر- توره او نورو خوږو او خوندورو عنوانو لاندې منظومې ویلی شوی دی.

دپیښور یوه نامتو لیکوال اومشهور ادیب روغ لیونی تقریظ پر لیکنی او د دیوان په ابتدا کښې یې چاپ کړ یدی د دې د پاره چه د کتاب قیمت او اهمیت ښه شانته څرګند شی د هغه تقریظ یوه وړه برخه د ښاغلو لوستونکو د پاره دلته رانقلوو:

روغ لیونی وروسته تر یوه لړ وینا وو (دمقید) پر شعر او شاعری داسی تبصره کوی:

«د (مقید) په شاعری کښی زور او خوند هله پیدا شی چه د پښتنی معاشری خاکه یې په ذهن کښې ګلکاری و کړی او د ماحول او معاشری په زپلو حالا تو په نرمه نرمه، پسته پسته اورنګینه ژ به کښی تبصره کول شروع کړی. دا تبصره دومره خوند ناکه اوله کیفه ګه ښکاری چه انسان یې په کیف کښې ورك او د غم او خوشحالی دواړو د احساس تر منځ ولاړ وی».

په دی پسی وروسته روغ لیونی د شاعر یو څو بیتو نه چه د همدغه مقصد او معنی نښی څنې ښکاری را نقل کوی او په آخر کښی خپله تنقیدی خو ندوره وینا په دی عبارت پای ته رسوی:

«زه دا نه وایم چه د مقید شاعری کلیتاً بی عیبه ده خودا ضرور ویلی شم چه دومره دور افتاده علاقه کښی یك تنهادی انسان

چه دخپلی علاقې کوم تخلیقی ادب پیش کړیدی د قدر لایق دی ، او کیدی شی چه دا ادبی شعر ددغی ځمکی په شاړه میره کښی پیش خیمه وی».

دا خو زموږ دخواږه لیکونکی روغ لیونی د تقریظ یوه برخه وه چه ما کټ مټ را نقل کړه .

اوس به زه خپل هغه نظر ښاغلولو ستونکو ته وړاندی کړم چه د مقید د دیوان د کتنی څخه وروسته ماته را پاته شویدی :

زموږ خواږه لیکونکی روغ لیونی د مقید د اووړ مګر خوږ اثر د ده دیوان بللی دی او ښایی چه دا دې د اصطلاحی او تقلیدی تعبیر پیروی وی د ښاغلی مقید دا اثر کټ مټ دیوه تجارتی کتلاك غوندی دده د افکارو د نخښی او جذباتو د نمونو او د احساساتو او ادبی تاثراتو د نښانو یوه صندوقچه ده چه د تخیلی نړۍ او بکرو افکارو هر ډول نفیس غمی او روښانه مرغلری پکښی پرتی دی داسې مرغلری چه تر اوسه نه سورۍ شوی او نه په تار پییلی شوی دی چه تردې وروسته بایدصافی او سورۍ اومنظمې او د پیغلو دټټرونو د پاره امیلونه ځنی جوړ شی .

د مقید د تخیل او احساس نړۍ ډیره ودانه ده ابتکاری خیالات یې خورادمزی دی اودتصوراو تصویر جهان یی بډای او د شعرو شاعرۍ کوریی زښته شتمن دی دده د تخیل قوت دومره زیات دی چه د یوه وچ بوس لرګی څخه د خپل ادبی اقتدارپه زورد طوبی یوه داسی تانده او تازه لښته جوړه کړی چه د ګلانو اوشګوفو څخه شاوخوا دانګې او د یوه کلك نور کاڼی څخه د خپل تخیل په مرسته هغه صراحی و تراشی چه شاعران د معشوقی د ښکلی غاړی سره تشبیه ور کوی

مقید یوازی اوهامی او تخیلی انسان نه دی او نه صرف د احساساتواو عاطفی نړۍ په سا مباله ده بلکه د حقیقی اوواقعی جهان او وا قعیت او حقیقت سره تر هر څه ډیره مینه لری او دیوه صاحب مرام ادیب غوندی د اجتماعی او حیاتی حقایقو سره خوا زه تماسونه کوی دومره علاقمندی او مینه ور سره څرګندوی چه د سړی داخیال شی چه ګنی سړی خود سوسایټی او اجتماع د خورا احساسو او ضروری پرابلمو نود اصلاح لوی ارمانجن دی.

مقیددیوه اخلاقی او فاضل ژوندد جوړولو ارمان لری اودیوه داسی جهان په تعمیر کښی

اخلاقی فضیلت اساس بلل دې ته مجبور کړی دی چه دا تپوس او پوښتنه وکړی او ووایی:

ته به په څه شی مانه نفرت کړی
نه زه ګنجی یم نه زه پمن یم
که بدمی ګوری بد به دې ګورم
که دولتمن یې ته زه غیرتمن یم

مقید د اجتماعی عدالت او حیاتی مساوات ضرورت او لزوم ته ملتفت شوید ی دا بی توازنه اوضاع چه اخلاقی نیمګړ تیاوې له همدغه پلومینځ ته راغلی دی احساسوی او په دې توګه اشاره ورته کوی:

زه هم سړ ی یم ته هم سړ ی یې
دوه مې لاسونه او دوه مې پښې دی
ستاچه مو ټر دی یا دې بنګلې دی
دانو څه نه دی یو څو پیسې دی

مقید پښتو او پښتنی ته هم پر خبرو راغلی او خوراخوږ او شیرین ورسره ږغیدلی دی داسې چه هر څوك یې وینا واوری ضرور به پرده یو دعشق او محبته سره جوړه افرین ووا یی او دومره به دده دخوازه کلام او ذوقی اداو افادې څخه محظوظ شی چه ترډیره عمره به یې خوند ورسره ملګری وی.

لنډه داچه دغه خوږ او مقتدر ادیب مقید که یوه پلا د خپل تخیل ښکلی او ګلالی ماشوم دلوړو ماڼو او هسکو قصرو، چمنونو او باغچو او ګلانو ته لیږی او هلته دعاشق او حریص بورا په د و دیو ځله دسنبل او بنفشې معطر او ربلونه پرې بویوی او بیا د ګلابو اننګې په ښکلوی او یا دسهار د ګلانو دبارخوګانو په شفق او غازه پورې شونډی موږی او په سره کوی یې او په آخر کښې دنرګس دحیرانو او مړ او وسترګو تماس او ننداري په کوی دخوار او غریب کور او دلڅولغړو فقیرانو جونګړو ته یې هم ورننباسی او دژوند او د کورؤ کاله جایزه یې اخلی.

څو بالاخره دټولنې ترټولو فعال او زحمت کښ او تر ټولو خوار وږی او تږی سړی یعنی دمزدور او کارګر سره خپله مر که دارمان او حسرت په کلماتو او جملاتو شروع کوی او وایی:

دتا دښکلو قربانیو جار شم
دتا ددې ستړو ځوانیو جار شم
دتا زړو زړو ختونو جار شم
دتا دډیر پیونډ و نو جار شم
دتا په سر دنیا ودانه ګو رم
لیکن دتا دنیا خو ورانه ګو رم

په اخر کښې زه خپله عقیده د مقید په باب کښې داسې څرګندوم:

ښاغلی مقید چه دجګو غرو او لوړ هسکو پښتنی غاښو او څو کو او دارتو او ر وښانو میرو

زیږنده دی ـ دده احساسات او د تخیل نړۍ دهغو کائناتو څخه متأثره او ګړی په ګړی الهام اخلی چه دهمزه شنواری کلام ته یې پوخوالی اوابتکار. اوداجمل خټك قلم ته یې متانت او خوند ـ اودمهدې ویناته یې رنګینی اوښکلا اودطوفان اشعاروته یې واقعیت او لنډه مننه اودځیګرافریدی آثاروته یې شعله اوسوز ؤ ګدازور کړی دی نوښایې چه دده څخه راتلونکی ورځی یومکمل او دډیر خوند اوښکلا څښتن ادب جوړ کړی ولی :

«چه او سې په خو ی به د هغو سې»

زماترانې

زماترانې ټولې په زهرولړ لې دی .

ولې به نه وی لړلې ؟ ایاتا زمادزندګی په جام کښې زهرتوی نکړه ؟ ؟

زماترانې ټولې په زهرولړلې دی ـ ولې به نه وی لړلې؟ ایازه پخپل زړه کښې په زرهاوو ماران نلـرم .

ایاله دغو ټولومارانونه علاوه ته زما په زړه کښې ځای نلرې ای زما دلدا ره !

« هـاینـه »

حبیب الله « تږی »

نوې ژبپوهنه او زړې خبرې

د کابل مجلې په تیرو دوو ګڼو کې مادهغه لړ مسائلو څخه چه غوښتل مې دد ې مقالو په سلسله کې پرې وغږیږم د املاء پرمسائله په عام ډول سره خبرې و کړې اودا مطلب مې څر ګند کړ چه املایی بحث له هجوی بحث سره توپیرلری .یعنی لومړنی یې په لیك پورې اړه لری اودوهم یې په ژبه پورې .

دغه ډول د همدې اساس له مخی داخبره پوره واضحه کړه چه دپښتو ټولنې « فیصلې » اکثرلهجوی فیصلی دی نه املاء یی .

دغسې په دې هم وغږیدم چه پښتو املاء کومه ثابته عنعنه نلری. نوځکه په دی برخه کښې دصحت اوخطادحکمو نودصادرولود پاره هغه خبره کوم اسا س نشی کیدای چه خلك یې «الفضل للمتقدم» بولی دغه ډول مې په پای کې په هغو اساسا تو هم خبرې و کړې چه تراوسه پورې دمعیاری پښتو املاء د جوړولو دپاره ځینولیکوالورامنځ ته کړی وې اودامې څر ګنده کړه چه آیا رښتیا هم دا د معیاری املاء دجوړولو دپاره څه اساسات کیدی شی او که یه ؟

دادی په دې ګڼه کې پد ې خبره غږیږم چه آیا دپښتو په مرو جه املاء کې دهمد ې عنعنوی املاء دپاره دوضع شوواساساتو اوخپله عنعنوی املاء اولیك دمنطق له نظره هم زموږ ځینی املایی حکمو نه اومروج املایی شکلونه منطقی دی او که یه ؟

کله که په دې لړ کې موږ ننی هغې املاء ته چه یې دځینوپه عقیده دمعیاری املاء بڼه غوره کړې ده لږ څه ځیرشی داسې ټکی به پکښې ومومی چه هغه دپښتو د همدې معمول لیك اومروجی املاء له نظره هم پوره منطقی نه ښکاری .

مثلا کله که سړی لیکی: « زۀچې کورته راغلم...» یا«زۀچی کورته راغلم...) یالیکی: « تاسې کورته ځی؟»

یالیکی:-«په یوه ګول نه پسرلی کیږی!» نوپه دې صورت کې سم دلاسه دځینوهغوخلکو له خوا چه دپښتو مروجې املا ء سره عادی شوی دی ترانتقاد لاندې راځی او ورته ویل کیږی چه املاء دې غلطه ده .

اما کله که بیاورته ووایی چه :

«ولی غلطه ده؟»

نوګمان کوم چه کله کله به دغه ډول خلك هیڅ ځواب نلری او کله به نه پوهیږم چه څه و وایی . مګر زما په عقیده د پورته حکم دتثبیت دپاره چه هرڅوك هرڅه ووایی اوهر ډول دلیل رامنځ ته کړی څه ځای نه نیسی .ولې چه داحکم په خپله یووچ اودپټو ستر ګوحکم دی .

البته داچه ولې؟ددې دپاره زه یولړ دلایل لرم اوهغه دادی دلته یې په تفصیل سره ګرانو لوستونکوته ور وړاندې کوم . څرنګه چه دمخه وویل شوزموږ په ننني پښتو املاء کې دا دوددی چه لیکوال «چې راغلم» یا «چی زاغلم» نه لیکی بلکه «چه راغلم» لیکی اوهمدادوهمه بنه یی درسته ګڼل کیږی .

زه وایم چه دمعمول پښتولیك او لیك دود سره سم تردو همې بنې یعنې « چه » څخه «چې» یاد کندهارلهجه «چې» بنه معقوله ده .

ځکه :

۱ـ کله که موږ په دې برخه کې معیار اومحك عنعنوی یالرغرنې املاء وبولواول خو څرنګه چه په تېروګڼو کې ویل شویدی عنعنوی املاء دپښتواملاء په برخه کې دصحت اوخطامعیارنه شی کیدی او که شی هلته هم بیاموږ وینو چه دپښتو په ډیرو لرغونو کښل شواسنا دو کې لکه دسلیمان ماکوتذکره او دروښان پیردخیر البیان هغه نسخه چه زموږ لاس ته راغلی ده ـ په همدې بنه یعنی «چې» لیك شویده نه «چه» .

۲ـموږوینو چه په همدې مروج پښتو لیك دود کې تل د(اې) اود (ای) فونیمونه (هلته چه یې د پښتو مروج لیك په واسطه ښودل دوددی) د« ې» او(ی) دګرافیمونوپه واسطه ښودل کیږی نه د(ـه) ګرافیم په واسطه.

مثلاً: احمد اومحمود راغلی دی.

یاداچه : دې پسې راغله .

۳ ـ په همدې مروج پښتو لیك د ود کې . د(ـه) ګرافیم عموماً هغه فونیمونه ښیی چه موږ یې په اصطلاح «زور» او «زور کی» بولو. نه هغه فونیم چه په عنعنوی اصطلاح کې یې ګرافیم مجهوله یامعروفه یې بولو .

٤ـدهغوعنعنوی اساساتوله مخې هم زموږ ځنې لیك دود پوهانو د عنعنوی املاء دپاره ښودلی دی او ما په تیرو دووګڼو کې په تفصیل سره ذکر کړل ـ د«چې» لیکل په همدې بنه منطقی اوعنعنوی املاء یې اساساتوسره برابر ښکاری. ځکه هلته ویل شویدی چه موږ باید حتی المقدوردالتباس مخه ونیسواوپه دې ترتیب

دهغه التباس مخه هم نیول کیدلای شی چه د «چه زوراو زور کی» په بڼه کې واقع کیږی .

دغه ډول په همدې معمول لیک او لیک دودو کې دهغه اساس حکم مراعات هم د «چې» یا «چی» پوره کیدای شی چه ما په تیرودوو ګڼو کې ذکر کړ او هغه داچه موږ باید فو نیمونه حتی المقدور څرنګه چه ویل کیږی هغسې ولیکو.

په همدې ترتیب څرنګه چه د مخه هم وویل شو «زهٔ راغلم» د پښتو ټولنی په فیصلو کې داملاء له نظره غلط ګڼل شوی او په همدې اساس یې اوس اکثر خلك غلط بولی. اما داچه ولی ؟

د پښتو ټولنې په فیصلو یا د ځینو پښتنو پوهانو په لیکنو کې یې دلیکل دادی چه « همزه » په پښتو کې نشته نو له دې امله یې موږ باید د لیکلو څخه ځان و ژغورو .

دادی اوس به موږ و ګورو چه دا حکم تر کومه حده پورې منطقی دی ؟

زما په عقیده د دې حکم په برخه کښی زموږ دلیك دود پوهانو لومړنی اشتباه له هغې اساسی اشتباه څخه سرچینه اخلی چه زه په تیرو ګڼو کې پرې غږیدلی یم او هغه د ګرافیم او مورفیم سره ګډول دی . ځکه کله که زموږ خبرې پر ګرافیم وی نو په هغه صورت کې خودا حکم رڼ غلط دی چه د موږ وایو چه څرنګه چه دا ګرافیم په عربی کې استعمال شوی دی نو موږ یې باید استعمال نه کړو. ځکه کله که داسی کوو نو تر هرڅه د مخه باید پښتا نه ځانته یو نوی لیك جوړ کړی نه داچه دې پردی مروج لیکو نه استعمال کړی .

اما کله که خبره پر فو نیم وی نو په دې صورت کې داخبره چه عربی «همزه » فو نیم په پښتو کې نشته بیاهیڅ مورد نلری ځکه موږ د «ء» ګرافیم را اخلو او په پښتو لیك دود کې یې استعمالوو نه هغه عربی فو نیم چه د همدې «ء» ګرافیم په واسطه ښودل کیږی. اما کله که وا یو چه موږ په پښتو لیك دود کې هیڅ هغه عربی ګرافیم نه استعمالوو چه معادل فو نیم یې په پښتو کښې نه وی نو په دې صورت کې برسیره پر «ء» ځینې نور عربی ګرافیمونه هم له پښتو لیك دود څخه باید حذف کړو .

برسیره پر دې همدغه نښه مونږ وینو چه په «راغلیء» کې لیکل کیږی او د پښتو ټولنې او پښتو لیك دود پوهانو حکم همدادی باید دغسې ولیکل شی. اما خپل هغه حکم ته نه ګوری چه په پښتو کې همزه نشته او باید و نه لیکل شی.

په پای کې دا خبره دلیك دود پو ها نو دخپل هغه حکم سره هم مخا لفه ده چه یې دعنعنوی املاءداساس په نا مه کړې اووا یی چه با یدد لتباس مخه‌ونیسو .ځکه کله که موږ«زړه۶» لیکو او دلته «۶» د هغه فو نیم ګرافیم وی‌چه‌په‌پښتو کې په‌عنعنوی‌اصطلاح زور کی بلل کیږی .نو په دې صورت کې به‌یې د«زړه» سره التباس نه وا قع کیږی .

دغه ډول دنوې ژبپو هنې له نظر ه هم د «ته۶» دپاړ سود «تو»په‌معنا په‌همدې بڼه‌لیکل‌د «ته»تر بڼې څخه منطقی‌د ه. ځکه هر فو نیم تر کومه ځایه‌چه ممکنه ده باید د یو ه جلا ګرافیم‌په وا سطه وښو دل‌شی اوپه‌ځینو برخو کې‌لکه‌ځر نګه‌چه کله کله‌لیکل شوی هم‌دی زموږ په عنعنوی‌املاء کې د«زور کی»د فونیم دپاره همدا«۶» ګرافیم اوس دپاره بد نه دی . دغسې‌هم‌دمروج‌دودله‌نظره« تاسې کورته ځی» غلط او«اوتاسی کورته‌ځی۶» درست ګڼل کیږی

حال دا چه‌دغه‌حکم‌هم‌دځینو نوروحکمونو په‌څېر دو مره منطقی نه ښکاری ځکه کله که موږ د«ځی۶»یا«راغلی» کلمات‌دفو نیمکس یعنی فو نیم پو هنې له‌نظره تحلیل او سر ه پر تله کړو نو به په صرا حت سره دا حکم و کړو خه‌د«راغلی۶» اود «خولی»د کلمودپای غږو نه‌زړ سره‌بیل اود نو ی ژب پو هنې په اصطلاح فقط یواوعین ډفتانګDII HTPNG دی‌چه په‌دې صورت کې یی په‌جلا جلا نښو سره رسمول څه مورد نلر ی .

اما کله که څوك وایې‌چه‌مورد لری اوداله دې امله چه «اسمی» او «فعلی» حا لت سر ه جلاشی دا نوبله او هغه لو یه سهوه ده چه‌یو خولیك بیر ته مخ‌په قهقرا بیایی .

یعنی ا لفبا یې لیك یا غږ یز لیك په ایدیو ګرامی IDEOGRAM لیك یادبلوم فیلډ خبر ه په لو ګو ګرامی LOGOGRAM لیك بدلوی یعنی کوشش کیږی‌چه دغږ پر ځای‌معنا یا کلمه رسم شی‌اوبله‌داچه‌د«راغلی» او «خولی» توپیر دغسې چه هر څوك دخپلی مو قع څخه په خبر و کی کوی همد ا سی یې په‌لیك کې هم دمو قع څخه‌او چته‌توپیر کولای شی‌اودې ته حاجت نشته چه‌دې یوپه یوه بڼه ولیکل شی‌او بل پر بله.

په همدې ترتیب کله که‌سړی‌لیکی‌چه : « په یوه ګل نه پسر لی کیږ ی » نوضرور به ځینو هغو خلکو له‌خواچه‌دپښتو معه‌وله املاء معیار بو لی ورته وویل شی چه املادې غلطه ده اوددې حکم دلیل به‌هم‌هرو مرو داوی‌چه « ګل» هیچاهم تراو سه« ګول»

نه‌دی لیکلی اما کله که بیادویلو ځای شی اوسړی خپله دهمدې منقد تلفظ واوری نو به یې ضرور دوهم فونیم په هغه ډول تلفظ کړی لکه د« ګوند، غونډ،شول » په کلمو کی چه یې کوی اود«و»د ګرافیم په واسطه یې په لیك کی ښیی خو کله چه دلیکلوځای شی اوورته ووایی چه د « ګوند ...»په شان دد ې کلمی دوهم فونیم هم باید د«و» په ګرافیم وښو دل شی هلته بیا داخبره نه‌منی.

بلکه عنعنی ته ځی اوهم هغه خبره کوی چه دا کلمه دمخه چا هسی نه‌ده لیکلی ا ما په‌تیرو ګڼو کی ماد ا خبره هم پو ره‌څر ګنده کړه چه‌په پښتو ملا کې عنعنه د صحت او خطامعیار نه‌شی کیدای ·

دادی اوس نو ددې څو مثا لو نو له مخی په زغرد سره‌ویلای شو چه‌د لیك دودپه‌برخه ځینی داسی حکمو نه چه «زه» غلط دی ا و «زه» صحیح یادا چه«چی»غلط دی‌او « چه » درست یادا سی نورچه‌ماپه‌تیرو ګڼو کی‌ذکر کړیدی نه یواځی داچه د نوې ژ ب پو هنې اومنطق‌له‌مخی ډیر درست نه ښکا ر ی بلکه دهغو اساساتو او فیصلو سره هم نه لګیز ی چه‌زموږدځینولیک‌دودپو هانواویا انجمنو نو لخوا دعنعنوی املا دپاره‌وضع‌شوی دی نوله دې امله زه وایم چه باید هیڅکله هم پد غو ډول مسائلو په پټو سترګو وچ حکمو نه او ټینګارو نشی بلکه‌هغه څه‌ته غاړه کښیښودل شی چه علم‌او منطق وا یې البته دا چه دیوې کره املاء درا منځ‌ته کولو په بر خه کی دنوی ژب پو هنی‌علم او منطق‌څه حکم کوی په‌دې به بیاوغږیږم .

ستاسو فکر

ستاسې فکرچه هرڅه وی تاسو هماغه یاست .

هیڅ امکان نلری‌چه څوك‌له خپل‌فکره‌لوی شی یادخپل‌فکرله‌حدودوڅخه تجاوزو کړی.

«متر لینګ

لیکونکی دوریانکوف

دافغانستان او شوروی اتحاد د پوهانو همکاری دې تقویه شی

دافغانستان دتاریخ ، اقتصاد ، کلتور، ادبیاتو اوژبو په تحقیقاتو کښې شوروی پوهان په واقعیت سره لو مړی مقام لری. هغه اثارچه شوروی افغانستان پیژندونکو په وروستیو وختو کښې لیکلی دی ددې شاهدی وائی چه دوی د افغانستان په ټولنه کښې هغه تاریخی جریا نات په دقت څېړلی دی چه پخواشوی دی او اوس روان دی . زه په دې باب کښې په هغو مقالو اومونو گرافیو استناد کوم چه شوروی مورخینو لکه آخراموویچ باباخواجه اېف، پیکولین، خالفین، گنکوفسکی ارونووا، پولونسکایا، کوختینا او نورو کسانو لیکلی دی او همدغه رنگه دفیلولوجستانو علمی آثارچه اسلانوف ،دوریانکوف ، لیبیدیف ، دورافی ایوا، گیرس، گراسیموا ، کالینینا یاخېویچ او نورولیکلی دی. شخصاً زما دپاره دهغه کال په ترڅ کې چه له افغانستان څخه وروستی ځل بیرته راغلم موقع پیداشوه چه په درو آثارو کښې برخه ولرم .اول هغه مونوگرافدی چه «دافغانستان په معاصر وادبیاتو کښې اجتماعی نغمې» نومېږی او ماله گراسیموا، دورافی ایوا او گیرس سره په گډه ولیکه .وروسته مې یو بل اثر ولیکه چه خپورشو او «پښتو ژبه» نومیږی . په دې ورځو کښې د آخراموویچ یو تاریخی اثر له چاپ څخه وتلی چه زما تر کتنې لاندې خپورشو. او عنوان ئی دا دی « افغانستان تر دوهمې عمومی جگړې وروسته». زما نورو ملگروهم همد اشانی څو کتابونه خپاره کړیدی. مگر دافغانستان دتاریخ مسایل همهغسی په هغو آثارو کښې مطالعه کیږی چه بل مطلب لری. مثلاً دخالفین په یوه لوی کتاب کښې چه عنوان ئې دبرطانئی داستعماری امپراطوری تشکیل او سقوط دی او په هغه کتاب کښې چه دپاکستان تاریخ ئی نوم دی او گنکوفسکی او پالونسکایا په قلم دی مگر زما په عقیده داخبره ترټولو مهمه ده چه هم شوروی او هم افغانی پوهان په خپلو علمی آثارو کښې تر ټولو فعال پروبلمونه را برسېره کوی او په ډېرو دغو پروبلمونو کښې نظرئی سره نژدې دی. او دا

خبره دافغانی اوشوروی پوهانو دعلمی همکاری د کامیابانه ترقی دپاره مساعدشرایط برابروی. دپروسږ کال په اګست کښی دختیځ پیژندونکو ده۲ بین المللی کانګراس دافغانستان په ځانګه کښی زمونږ کارد مفیدی همکاری یوبنه او ښکاره مثال دی . په دې شعبه کښی اکثره ویناوی شوروی او افغانی پوهانو کړی دی او دهغو متنونو زیاته توجه ځان ته جلبوله .

زه دقدیم او معاصر تاریخ ،دادبیاتو اوژ بو ډېر مسایل ذکر کولای شم چه په وروستیو وختو کښی هم دافغانستان پوهانو اوهم د شوروی پوهانو علاقی ئی ځان ته جلب کړی دی. مثلاً داستعمار او امپریالیزم په خلاف دافغانستان دخلکو مبارزه، دافغانانو دمستقل دولت ترقی، دبیطرفی هغه سیاست چه افغانستان ئې چلوی، د پښتونستان د آزادی دغوښتلو نهضت. داد تاریخی مسایلو فهرست دی چه البته په هیڅ ډول پوره نشی بلل کېدای. مګر دافغانی ادبیاتو اوژبود تحقیقاتو په میدان کښی ددې مسئلو شمېر هم ډېر زیات دی .مثلا د معاصر و ادبیاتو تاریخ، ترقی او تقسیم، ملی اشعار او عروض ،دریالیزم ترقی، دافغانی ادبیاتو او فولکلور ترمنځ روابط، دپښتو دلهجو دفونېتیکی پروبلمونه دپښتو درسونو متود او ډېری نوری مسئلی. مګر داټول مسائل دافغانستان دعلم او کلتور د ترقی دپاره ډېر اهمیت لری. په دې هیڅ شك نشته چه ددې مسایلو په تحقیقاتو کښی علمی همکاری هم دافغانی پوهانو او هم دشوروی پوهانو دپاره مفیده ده.

اوس چه زه بیا افغانستان ته په خپل علمی سفر راغلی یم نو هیله لرم چه له افغانی پوهانو سره زما لیدنی کتنی او بحثونه به زما دعلمی کارونو دپاره او همدغه رنګه دهغو د آینده علمی آثارو دپاره ګټوروی. هیله لرم چه مونږ به ډېر نور مسایل پیدا کړو چه دهغو په تحقیقاتو کښی ددواړو هیوادو دپوهانو دعلمی همکاری امکان پیدا کولای شی. هغه سیاسی روابط چه دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ موجود دی دپوهانو دمشترکی کامیابی دپاره مساعد شرایط برابروی . په آخره کښی وایم چه دافغانی او شوروی پوهانو علمی همکاری دې کال په کال مخ په وړاندی درومی او تقویه کېږی دې !.

نیکولای د وریانکوف

داشتراك بيه	پته
په افغانی	
په کابل کښې ٤٠	شیرعلی خان واټ نوی ښار
دهېواد په نورو برخو کښې ٤٦	کابل ـ افغانستان
زده کونکو ته نیمه بیه:	
١ـ کابل ٢٠	
٢ـ اطراف ٢٣	
د باندې ملکو کښې: ٥ امریکایی ډالره	
دیوې ګڼې بیه ٤	
دشپږ ومیاشتو اشتراك هم منل کېږی	
دپښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك او اطرافی نمایندګیو کښې یې: ٧١٨٧	دپښتو ټولنې د رئیس د تېلفون لمبر ٢٠٣٥٠
داشتراك بیه په اداره کښې هم اخستله کېږی	د کابل مجلی د تېلفون لمبر ٢١٢٩١

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy .

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M.Sidiq Rohi

Coaditor : M.Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه